# پښتو رپورتاژ ابتداء اؤ ارتقاء

## The Beginning and Evolution of Pashto Reportage

ډاکټر زبېر حسرت*

**Abstract:**

Reportage is one the popular genres of Pashto Literature and had lexical roots in French literature. The writer of this paper has extensively discussed the beginning and evolution of the Reportage. Moreover, the author has compared the technical aspects of Reportage with travelogue, Novel, Drama, Diary, Autobiography and short story. The writer of this paper has presented the complete sketch of the Reportage with the special reference to the Pashto Literature.

**Keywords:** Reportage, Pashto Literature, Drama, Novel, Short Story, Travelogue.

رپورتاژ (Reportage) دَ فرانسیسي ژبې لفظ دی چې اخبار نویس یعني صحافي ئې اخبار کښې دَ یوې واقعې دَ خبر په طور چاپ کوي، رپورټر خپل رپورټ کښې دَ خپل سیاق و سباق په چوکاټ کښې دننه فقط خبر سره غرض لري اؤ سیوائي خبرې اترې یا خپل ما في الضمیر اؤ خپل احساسات و جذبات پکښې نه بیانولی اؤ نه شاملولی شي ولې دغه خبر یا رپورټ چې بیا دَ صحافي نه دَ ادیب قلم ته راشي نو هغه چې واقعه څنګه لیدلې کتلې اؤ محسوس کړې وي نو دَ خپلو احساساتو اؤ جذباتو دَ څرګندؤلو سره چې هغه دَ وقوعې بیان کوي نو دَ هغه دَ اظهار پیرایه شاعرانه، ادیبانه، عالمانه، سنسي خېزه، ډرامائي، افسانوي اؤ شګفته خوش ګواره تکلي انداز کښې وي اؤ دا ټول توکي دَ رپورتاژ په خېټه کښې ډېر په اسانۍ سره ځائېدی شي ځکه چې نن سبا تخیّلي رپورتاژونه اؤ سفرنامې هم لیکلی شي.

په (اکسفورډ اېډوانس لرنرز ډکشنري) (Oxford advance learners dictionary) کښې دَ رپورتاژ په حقله لیکلي شوي دي چې:

"Typical style of reporting is reportage (1).

یعني (مخصوص انداز "اسلوب" کښې رپورټنګ، رپورتاژ دی).

دغه رنګ په (وېبسټر نیو ورلډ ډکشنري اٰف دي امریکانا لېنګوېج) کښې دَ "رپورتېج" دا تعریف لیکلی شوی دی.

"Written reports, articles etc that deal with current events in a journalistic manner". (2)

یعنې لیکلي شوي رپورټونه یا مضامین (مقالې) تازه ترینو واقعاتو سره په صحافتي رنګ کښې پېش

---

* Chairmain, Department of Pashto, Govt Post graduate College,Sawabi

کؤل.

په "میریام وېبسټر" کښې دَ رپورتاژ دا تعریف شوی دی چې:

"The reporting of news, for the press and the broadcast media. Factual presentation in a book or other text, especially when this adopts a genoralistic style".(3)

"دَ خبرونو رپورټنګ دَ پرېس یا دَ نېغ په نېغه خورؤنو اؤ دَ حقائقو بیانؤل دَ کتاب په شکل کښې خصوصاً چې یو صحافتي انداز پکښې خپل کړی شوی وي".

په "ډکشنري . کام" کښې ئې دا تعریف شوی دی:

"A written account of an act, event, history, etc., based on direct observation or on thorough research and documentation".(4)

"دَ یو عمل، دَ یوې واقعې یا دَ یو تاریخي واقعې تحریري شکل چې نېغ په نېغه په یوه مشاهده یا په ژوَر تحقیق اډانه وي".

ډاکټر رفیق حسېن لیکلي دي چې:

"رپورتاژ ایک صنف ادب ہے جس میں موضوعیت کو زیادہ دخل ہے مگر ایسا نہیں کہ اس سے معروضیت ہوتی ہی نہیں۔ رپورتاژ مزے لے لے کر تحریر ہوتا ہے۔ رپورتاژ مختصر افسانے کی ایک قسم ہے جو اس کے تحت آتی ہے لیکن قدرے مختلف ہوتی ہے مگر کوئی بنیادی فرق نہیں ہوتا"(5)

علي سردار جعفري لیکلي دي چې:

"رپورتاژ صحافت اور افسانے کی درمیانی کڑی ہے اور اس سے ہمارے ادب کو بے انتہا فائدہ پہنچ سکتا ہے۔ ترقی پسند تحریک کی نوعیت کو دیکھتے ہوئے یہ محسوس کرتا ہوں کہ رپورتاژ ہمارے مقاصد کے لیے بہت ضروری ہے۔ اس کے ذریعے ہم بڑے بڑے کام کرسکتے ہیں"(6)

قرة العېن حېدر صاحبه لیکي چې:

"رپورتاژ آنکھوں دیکھے حال کی وہ شکل ہے جس میں مصنف کی جذباتی شمولیت ابتدا تا انتہا نمایاں ہو"(7)

عبدالعزیز خالد لیکلي دي چې:

"رپورتاژ کا بنیادی اُصول یا تقاضا واقع کی صداقت مصنف کا بذاتِ خود ملوث یا شاہد ہونا واقعہ کا مرکزی نقطہ سماجی، تہذیبی یا سیاسی اہمیت کا حامل اور کردار خاکہ نگاری اور محاکات پر دسترس ہو"(8)

ډاکټر اعجاز حسېن لیکلي دي چې:

"رپورتاژ کا تیار کرنا ایسا مشکل کام ہے جس کے لیے فنکار کے دِماغ کی ضرورت ہے۔ اس کو مؤرخ کا حکم، ادیب کا دِماغ اور مصوّر کی نظر چاہیئے"(9)

پروفېسر شمیم احمد لیکلي دي چې:

"اس صنف کو رپورٹ اور صحافت سے اس کا فن ہی علیٰحدہ کرتا ہے۔ اس کا موضوع اگرچہ بڑی حد تک صحافتی ہے لیکن فن قطعی ادبی ہے۔ یہ ایک ایسی صنف ہے جس میں خارجیت اور داخلیت کا حسین امتزاج ہوتا ہے۔ وہ ایک دوسرے سے شیر و شکر ہوتی ہیں اور دونوں ہی اس صنف کے معیار کا تعین کرنے کی ذمہ دار ہوتی ہیں۔" (10)

پروفيسر خاطر غزنوي ليکلي دي چې:

"صحافت محض واقعہ کا بیان ہے جبکہ واقعات میں معنویت و گہرائی پیدا کرنا اور اسے اہمیت بخشنا رپورتاژ کا کام ہے۔ رپورتاژ کے لیے مشاہدہ اوّلین اور لازمی عنصر ہے تاہم سب سے اہم چیز خارجیت سے داخلیت کی طرف رجحان ہے۔ اور یہی رجحان اسے صحافت تاریخ سفر نامے، افسانے اور ناول سے جدا کرتا ہے" (11)

رپورتاژ: "سفر نامے سے سفر منہا کر کے سامنے کی دیکھی ہوئی حقیقت اور صورتِ واقعہ کو ادبی صورت دے دی جائے تو اس قسم کی رپورٹ کو اصطلاحاً رپورتاژ کہتے ہیں۔ اخبار کا واقعہ، جلسے کا آنکھوں دیکھا حال اور منظر کی رپورٹ رپورتاژ کی ابتدائی صورتیں شمار کی گئی ہیں۔ ڈاکٹر اعجاز حسین کے خیال میں یہ صنف اُردو ہی میں نہیں دنیا میں بھی اپنی خصوصیات کے لحاظ سے تازہ وارد ہے۔ رپورتاژ کو دوسری جنگِ عظیم کے دوران ایک نئی صنفِ نثر کے طور پر اُردو میں متعارف کرایا گیا تھا اور چند اعلیٰ درجے کے ادیبوں نے اپنی عمدہ تخلیق کاری سے اپنے پاؤں جمانے میں مدد دی۔ چنانچہ اب یہ صنفِ نثر نہ صرف ادبی تقاضوں کو پورا کرتی ہے بلکہ جذبات واحساسات اور واقعات ومشاہدات پر ردّ عمل اور تاثر کی مختلف النّوع کیفیات بھی سامنے لا رہی ہے"۔

وړاندې ليکي چې:

"اصطلاحی لحاظ سے اُردو میں رپورتاژ کو سب سے پہلے کرشن چندر نے متعارف کرایا تھا۔ انہوں نے ہی اس صنف کے لیے رپورتاژ کا اصطلاحی نام تجویز کیا جسے پہلے حیرت سے سنا گیا بعد میں انگریزی لفظ "ری پورٹیج" کا اُردو متبادل سمجھ کر قبول کر لیا گیا" (12)

ابراہیم جلیس (متوفی 1977ء) نے اس کے لیے "رپورتاج" استعمال کیا لیکن یہ قبولِ عام حاصل نہ کر سکا۔ اُردو نثر کے پس منظر کا جائزہ لیں تو محمد حسین آزادؔ، فرحت اللہ بیگ اور خواجہ حسن نظامی کے بعض مضامین میں اس صنف کے آثار مل جاتے ہیں۔ ان ادبا نے متخیلہ ادبی اور تہذیبی محفلیں آراستہ کیں اور احوال کو "آنکھوں دیکھا" بتا کر رپورتاژ کا تاثر پیدا کیا۔ فرحت اللہ بیگ کا معرکتہ الآرا مضمون "پھول والوں کی سیر" چند داخلی خصوصیات کی بنا پر اوّل درجے کا رپورتاژ کہلانے کا مستحق ہے لیکن جن کیمیائی عناصر سے کام لے کر کرشن چندر نے "پودے" میں جاذبیت پیدا کی تھی وہ "پھول والوں کی سیر" میں نظر نہیں آتی۔ فرحت اللہ

بیگ نے یہ مضمون اپنے ذہن کی اپج سے اختراع کیا تھا لیکن کرشن چندر کے سامنے اس صنف کے مغربی نمونے بھی تھے اور اسے بطور صنف بھی مغرب ہی سے برآمد کیا گیا تھا۔ چنانچہ کرشن چندر کو اُردو کا پہلا رپورتاژ نگار اور ”پودے“ کو پہلا باقاعدہ اور فنی لحاظ سے پختہ رپورتاژ تسلیم کرنا مناسب ہے“(13)

”رپورتاژ کا فن ارتقاکے ابتدائی مراحل میں ہے۔ اس صنف میں وقت کے قدم کو زمانہ حال کے نقطے پر قائم رکھنا پڑتا ہے اور ناول یا افسانے کی طرح اس میں تخلیق کا منطقی دائرہ مکمل نہیں ہوتا۔ اس کا داخلی حسن واقعاتی صداقت اور بیانیہ کے اسلوب میں ہے اور متخیلہ کے استعمال کے مواقع نسبتاً محدود ہیں۔ یہی وجہ ہے کہ معدودے چند مصنفین نے اسے محدود پیانے پر فنکارانہ طور پر استعمال کیا اور اس صنف میں زیادہ تخلیقی ثمرات حاصل نہیں ہوئے“(14)

دَ اولسي جرګې مشرانو پوهانو دَ رپورتاژ تعریف دا رنګ کړی دی چې:

”رپورتاژ مسلسل مشاهدات وي، ژبه کښې ئې لطافت اؤ رنګیني وي چې که ډېر هم اوږد شي ولې په لوستو یا اورېدو ئې اورېدونکي یا لوستونکي نه تنګېږي. رپورتاژ کښې داسې الفاظ استعمالول نه دي پکار چې کراهت پېدا کوي“(15).

**رپورتاژ اؤ روداد**:

په روداد اؤ رپورتاژ کښې هم ډېر فرق دی. دَ اولسي ادبي جرګې پوهانو چې دَ جرګې په تنقیدي اجلاسونو کښې وخت په وخت دَ رودادونو په حقله کومې کوټلې اؤ دَ کار خبرې کړې دي هغه دلته لیکم چې دَ روداد تعریف ترې ښها طرح واضحه شي:

- ❖ دَ روداد متبادل توری (ټکرے) پښتو کښې نشته. دا هم لکه دَ افسانې یا مقالې ځان له بیل تکنیك لري.
- ❖ دَ روداد زړه ډېر ورکوټی وي، هغه دَ اصلي واقعاتو نه علاوه نورې خبرې نه شي زغملې.
- ❖ دَ روداد ژبه ښه ادبي اؤ معیاري پکار ده. دَ مختلفو کسانو خبرې پکښې تسلسل سره لیکل پکار دي.
- ❖ روداد لیکونکي له پکار دي چې دَ نوټس (Notes) اخستو په وخت ټولو اهمو خبرو ته پام کوي اؤ خپلې خبرې هم نه هېروي. داسې بې غورۍ کښې اکثر له روداد لیکونکي خپلې خبرې نیمګړې پاتې شي.
- ❖ روداد کښې دَ مختلفو شعرونو نه (که دغه شعرونه په روداد کښې وئیلی شوي وي) لیکلو خوند اؤ رنګیني پېدا کېدی شي اؤ دا دَ روداد جدت دی خو روداد لیکونکي له نه دي پکار چې هغه په روداد کښې دَ خوند، رنګینۍ اؤ جدت دَ پاره له ځانه څه کمی زیاتی وکړي. دا دَ

روداد عیب دی اؤ دې سره دَ روداد مقصد مجروحېږي.

- ❖ روداد کښې ډېرې خبرې په خپلو مختصرو خو جامع الفاظو کښې داسې بیانول پکار دي چې دَ ویونکیو مقصد ته ترې نقصان ونه شي اؤ غېر ضروري خبرو له په روداد کښې څه اهمیت ورکؤل نه دي پکار بلکې نظر انداز کؤل ئې پکار دي.
- ❖ روداد لیکونکي ته دا اختیار نشته چې هغه په خپل طبیعت په روداد کښې هغه خبرې ولیکي کومې چې هغه ته درستې ښکاري اؤ هغه ونه لیکي کومې چې دَ هغه په خیال غلطې وي.
- ❖ روداد لیکونکي له دَ اجلاس کارروایۍ کښې مداخلت نه دي کؤل پکار اؤ کوم بحثونه یا فېصلې چې دَ اجلاس په وخت کښې شوې وي هغه پوره پوره ولیکي.
- ❖ روداد کله ډائرېکټ سپیچ (Direct speech) یا اِن ډائرېکټ سپیچ (Indirect speech) کښې لیکلی شي اؤ دا دَ روداد حُسن دی"(16)

دَ دې برعکس رپورتاژ کښې هغه ټول عیبونه په خاصیتونو بدلېږي څه چې رودادنګارۍ کښې بد ګڼلی شي نو هغه رپورتاژ کښې خوبۍ دي. روداد دَ یو اجلاس کېدی شي چې اوس ئې خالص ادبي رنګ اؤ دَ ادبي صنف حېثیت خپل کړی دی اؤ رپورتاژ که هر څو ادبي صنف دی اؤ دَ اجلاس نه دَ یوې واقعې، یو سفر، یوې مخ کتنې دَ مشرانو دَ ورځې په مختلفو هیئتونو کښې لیکلی شي هغې کښې دَ مختصر اؤ طویل څه قېد نشته اؤ لیکونکی پکښې په ازاد مټ دَ خپل زړه براس وېستلی شي اؤ هر هغه څه لیکلی شي چې دَ ده احساسات اؤ جذبات پکښې شاملېدی شي اؤ دَ ده ضمیر ئې ده له دَ لیکلو اجازت ورکؤلی شي. دې کښې رپورتاژ لیکونکی دَ خپل زړه خبرې کوي اؤ دَ خپل ذهني استعداد مطابق متلونه، ټپې، شعرونه اؤ نور داسې اقوال، دَ قرآن ایاتونه اؤ احادیث راوړی شي چې دَ ده دَ موضوع سره متعلق وي. دَ رپورتاژ دَ پاره بیانیه انداز، مکالماتي انداز، نېغ په نېغه، بالواسطه یا بلاواسطه دَ ماحول مطابق دَ خپلو احساساتو اؤ جذباتو سره سم لیکلی شي.

**رپورتاژ اؤ سفرنامه**

"دَ نثر کوم صنف چې رپورتاژ ته ډېر نزدې دی هغه سفرنامه ده. هم دا وجه ده چې څه سفرنامې رپورتاژ اؤ څه رپورتاژونه سفرنامې ګڼلی شي. دَ یو معیاري رپورتاژ لیکلو دَ پاره سفر لازمي شرط خو نه دی ولې چرته اؤ کله هم چې رپورتاژ لیکلی شوی دی هغې کښې دَ سفر عنصر شامل شوی دی. فرانسیسي رپورتاژ لیکونکي وي اؤ که دَ برطانیې دَ جنګونو خبر ورکونکي رپورټران ټولو خپل رپورتاژ دَ خپل ښار، وطن اؤ دَ علاقې نه لرې دَ جنګ په محاذ دَ سفر په حالت کښې یا فوجي بارکونو اؤ خندقونو کښې لیکلي اؤ رالېږلي دي. هنګامي تاثرات عموماً دَ هنګامو تر مینځه لیکلی شوي اؤ مرتب شوي دي اؤ هنګامي فسادونه جنګونه زیات تره دَ کور نه بهر پېښېږي.

سفرنامه دَ یو اُوږد ناول په شان ډېر حالات، واقعات اؤ کردارونه لري اؤ دَ یو ځائې یا وطن ژبې، رنګ

نسل، مذهب، رسمونو رواجونو خاورې او خلقو دَ مخصوصو رويّو ښې بدې خبرې کوي. دَ دې په ضد رپورتاژ دَ پاره لکه چې ووئيلی شو سفر شرط نه دی خو دَ يوې واقعې، ادبي دستورې، څه خاص قامي ورځې دَ يو لوئې شاعر اديب په درناوي کښې دَ شوي پروګرام دَ سترګو ليدلی کتلی حال په خپله مخصوصه ژبه او ادبي پېرايه کښې بيانېږي"(۱۷).

**رپورتاژ او ناول**

ناول دَ يو مخصوص دور قيصه وي يا دَ يو خاص شخصيت دَ ژوند ټول رنګونه لري. په ناول کښې دَ زمان او مکان پابندي هم ضروري نه ده. په دې کښې دَ پېړو او براعظمونو وسعتونه هم داخلېدی شي او دَ تخيل په زور پکښې نوي نوي او ګڼ شمېر کردارونه هم پکښې ځائې موندی شي. دَ ناول او رپورتاژ بېخي ځان ځان له دنياګانې دي. په سفر نامه او رپورتاژ کښې يو شان والی دَ زيات نزديکت په وجه لټولی شي چې دَ دواړو صنفونو تعلق دَ ادب هغه برخې سره دی کوم چې دستاويزي حقيقت او واقعيت سره تړون لري يعني سوانح عمري، ډائري، خاکه نګاري او سفرنامه وغېره.

په دې حواله دَ رپورتاژ او ناول موازنه دَ حقيقت او فکشن (ډرامه، ناول، ناولټ، افسانه او لنډه اوږده قيصې) موازنه شي. دَ نثر په تخليقي افسانوي صنفونو کښې ناول ډېر جامعيت غواړي. دَ لوئې ناول دَ پاره دَ ټول ژوند رياضت، مطالعه، مشاهده، دَ موضوع تاريخي او جغرافيائي پس منظر نه خبرېدل ډېر ضروري وي. دَ دې دَ پاره دَ زوروري قيصې موجودګي اولنی شرط دی. قيصه په ليکونکي ناول ليکي او دَ دې قيصې دَ پاره دَ يو ګټور او مربوط پلاټ ضرورت وي. دا قيصه دَ کردارونو، منظرونو او مکالمو (خبرو اترو) په توسط مخ په وړاندې ځي او ليکونکی خپله قيصه په هره زمانه کښې اډانه کولی شي. ما فوق الفطرت کردارونه پکښې هم معارفي کولی شي – بل خوا رپورتاژ ليکونکي ته دا سهولتونه او اسانئ نه وي. ځکه چې هغه دَ حقيقت دَ پولې نه بښکته نه شي راکوزېدی (18).

**رپورتاژ او خودنوشت**

رپورتاژ او خودنوشت سوانح او ځان پېژندنې(Autobiography)کښې ډېر قدرونه مشترك دي بلکې تر ډېره حده رپورتاژ دَ جزو او کل دَ فرق سره دَ خود نوشت او په ځان پېژندنې يوه ټوکړه وي. دَ دواړو اصنافو تعلق دَ واقعاتي ادب سره دی. په دواړو کښې دَ افسانوي ادب ګنجائش دَ کم نه کم دی. دَ دواړو مشترکه قدرونه تاريخي صداقت او راست بازي خيال کولی شي.

رپورتاژ دَ يو فرد په ذاتي تجرباتو او مشاهداتو اډانه هغه ادبي ليك وي چې هغه دَ يو خاص هنګامي کېفيت دَ سفر يا دَ جنګ حالات او دَ فساد مصدقه رپورټنګ په حواله مخې ته راځي او ځان پېژندنې (خود نوشت) دَ يو فرد په ټول ژوند باندې خوره وي. په دې کښې دَ غېر اهم واقعاتو ذکر هم کول پکار وي. غېر دلچسپ تفصيلات هم بيانول پکار وي. په دې کښې فرد له دَ خپلې زندګۍ ټول واړه او لويو واقعاتو روداد بيانول پکار وي. او دَ پېدائش نه واخله دَ ژوند تر آخره ټول تفصيلات، شجره نسب، دَ

مشرانو دَ ژوند حالات، عقيدې، دَ ودونو اؤ دَ بچو خبرې اؤ دَ عشقونو معاشقو تذکره هم ليکل پکار وي دَ دې برعکس رپورتاژ دَ دومره حصې تصوير اؤ انځور وي چې دَ يو خاص مقصد دَ پاره اختيار کړې سفر کېفيت دَ تېرېدو په دوران کښې مخې ته راځي.

دَ خودنوشت اؤ رپورتاژ ‹رپورټنګ› دَ اعتبار قابل ګڼلی شي. په خودنوشت سوانح اؤ رپورتاژ دواړو کښې بيانيه دَ زمانې اعتبار سره سلسله په وړاندې روانه وي. رپورتاژ نګار ته دَ خپلو موادو په راغونډولو کښې فني اؤ تخليقي حق حاصل وي خو خودنوشت سوانح کښې ليکونکی دَ واقعاتو پټولو يا نظرانداز کؤلو مجاز نه وي اؤ دغسې خودنوشت دَ کم معيار بللی شي چې په کوم خودنوشت کښې چې دَ واقعاتو دَ نيمګړتيا يا دَ کمولو کوشش کړی شوی وي.

دَ خودنوشت خصوصيت دا دی چې کوم واقعات څنګه پېښ شي نو هغه دې دَ فن يا تحقيق دَ خيال ساتلو نه بغېر پېش کړی شي. دَ خودنوشت ليکونکی دَ تخيل په زور کردار نګاري نه کوي. هغه په دې کښې دَ زېب داستان عنصر نه شاملوي. دَ دې په مقابله کښې رپورتاژ نګار نسبت په خپل مختصر ليك کښې خپل فني اؤ تخليقي صلاحيتونه پکار راولي اؤ واقعات په خپل نظر سره ښه اؤ ښکلی کوي. خودنوشت ليکونکي عموماً دَ خپل ذات نه مرکز جوړ کړی وي اؤ مخکښې ځي. دَ هغه توجه دَ خپل داخلي کېفياتو پله وي اؤ دَ رپورتاژ نګار نظر په خارج باندې وي. هغه دَ خارج نه داخل طرف ته سفر کوي اؤ په ځان دَ پېښو واقعاتو دَ داخل نه بهر دنيا باندې خپل نظر ساتي. سوانح نګار عموماً ټوله معاشره، تاريخ اؤ زمانه په خپل بحث کښې راولي خو دَ رپورتاژ نګار دَ نظر نه دا بحثونه اکثر بهروي.

خودنوشت سوانح تاريخ يا تذکرې ته ډېر نزدې ګڼلی شي خو دَ رپورتاژ نزديکت دَ ادب اؤ فن سره ډېر وي. خودنوشت په ژوند کښې يو ځل دَ ژوند په آخري وختونو کښې ليکلی شي اؤ دَ رپورتاژ دَ واقعاتو دَ تسلسل تکرار اؤ نوعيت مطابق هر څومره ليکلی کېدی شي. دَ خودنوشت اؤ رپورتاژ دواړو دَ پاره ضروري ده چې دا دې دَ ليکونکي خپل ليکلی شوی ليك وي. خودنوشت دَ خپل ځان په حقله خپل ليك ته وائي خو چې کوم سوانح په خپل ځان نه وي په بل چا ليکلی شوی وي نو هغې ته بايوګرافي وئيلی شي. دَ هغې موازنه دَ رپورتاژ سره هېڅ معنیٰ نه لري. دغسې رپورتاژ هم دَ چا بل ليك يا تصنيف نه شي کېدی. په اُردو کښې صرف يو رپورتاژ داسې دی چې هغه دَ ليکونکي نه علاوه بل چا ليکلی دی. دا رپورتاژ په کال 1936ء کښې "دَ انجمن ترقي پسند مصنفين دَ کل هند کانفرنس" په نوم ډاکټر قمر رئيس دَ اظهار اثر په قلم ليکلی وه . اظهار اثر په خپله په دې کانفرنس کښې شريك نه وه . ډاکټر قمر رئيس خپل نوټس (Notes) اؤ خپل تاثرات اظهار اثر له ورکړل اؤ دَ رپورتاژ ليکلو عرض ئې ورته وکړو اؤ دغسې هغه دغه فرمائش پوره کړو اؤ دغسې يو مفصل رپورتاژ په کتابي شکل کښې مخې ته راغلو. ‹پښتو کښې مونږ سره دَ دې دوه لوئې مثالونه په اولسي

ادبي جرګه اؤ دَ ساهو ليکونکيو مرکه کښې دَ رودادونو په شکل کښې موجود دي چې هر دواړو جرګو کښې دَ يو تن روداد ليکونکي دَ نوټسونو نه بل روداد ليکونکي رودادونه مکمل کړي ليکلي دي. دغه رپورټ رپورتاژ تسليمول صحيح نه دي ځکه چې دا دَ رپورتاژ دَ تعريف په اولني شق پوره نه خېژي (19).

دَ اجمل خټک "دا زه پاګل وم" دَ پښتو ژبې اؤ ادب بهترين رپورتاژ هم دی اؤ په ځان پېښې حالات اؤ واقعات هم دي. دغه رنګ دَ باچا خان "دَ شلمې صدی تهذيب اؤ جهل خانې" هم دَ دغې قبيلې غوره رپورتاژ دی. قلندر مومند چې دَ ابراهيم جليس "ایک ملک دو کہانی" ترجمه: دَ يو ملك دوه قيصې په نامه کړې ده نو هغې کښې دَ ترقي پسندۍ اؤ اشتراکي نظريې اؤ عقيدې کارستاني کارفرما وه. البته که قلندر مومند صاحب دَ ابراهيم جليس مشهور رپورتاژ "جیل کی دن اور جیل کی راتیں" ترجمه کړې وی نو دا به په پښتو ژبه اؤ ادب باندې ډېر لوئې احسان هم وه اؤ دَ هغوي دَ نظريې سره سم به پښتو ته يو بل غوره رپورتاژ هم راوړېدلی وه .

سوانح دَ څه قسمه نوعيت هم کېدی شي بلکې څنګه چې شخصيت وي هم هغه شان به سوانح عمري هم وي. دَ جوش مليح ابادي دَ "یادوں کی بارات" دَ عشق اؤ معاشقو دَ قصو نه ډك دی، نو دَ قدرت الله شهاب "شهاب نامه" دَ افسر شاهۍ دَ ملازمتي سازشونو اؤ دَ تصوف اؤ روحانياتو دَ محير العقول وارداتونو نه معمور دی.

دَ دې په مقابله کښې رپورتاژ دَ يوې واقعې نه دَ متاثره کېدو اؤ فوراً په وجود کښې راتلونکي ليك مزاج لري. دَ دې دَ پاره څوك دَ عمر دَ تېرېدو انتظار نه شي کؤلی.

"خودنوشت سوانح عموماً دَ لويو شخصيتونو وي اؤ په دې کښې دلچسپي هم دَ دغه شخصيت دَ مقام اؤ مرتبې په وجه اخستلی شي خو دَ رپورتاژ اهميت دَ واقعې په حواله يا دَ ليکونکي دَ اسلوب اؤ دَ ليك دَ کمال په مناسبت تسليمولی شي. په فساداتو ليکلي شوي رپورتاژونه اکثر دَ خوني واقعاتو په وجه لوستلی شي. دَ تقسيم هند په موضوع باندې ليکلي شوي "محمود هاشمي رپورتاژ دَ ټولو نه لوئې اهميت دَ واقعاتو دَ صداقت سره سره دَ هغه دَ منفرد اسلوب بيان دی. دغسې دَ کرشن چندر اؤ نورو ترقي پسندو رپورتاژونه دَ ترقي پسند نظرياتو په حواله دَ لوستلو څيزونه دي." (20)

خو دَ دې برعکس دَ پښتو په جديد کلاسيکي ادب کښې دَ "هغه دغه" په نامه دَ منشي احمد جان ليکلي دَ ازادۍ دَ جنګ واقعات چې انګرېزانو ورته غدر (دَ غدارۍ جنګ) وئيلو اؤ دَ مسلمانانو دَ پاره دَ هند دَ ازادۍ اؤ حريت پسندۍ اؤ حريت پرستۍ يو وينې وينې داستان دی، ئې ډېر په چل اؤ هنر ليکلی اؤ دا شان ئې دَ انګرېز سرکار په نوکرۍ کښې هم خپله پښتون واله پاللې ده اؤ دَ خپل پښتون شناخت بلکې دَ پښتون قام پرستۍ ثبوت ئې هم ورکړی دی.

**رپورتاژ اؤ ډائري**

"په رپورتاژ اؤ ذاتي ډائرۍ کښې مشترکه اړخ دا دی چې دَ دواړو اصنانو تعلق دَ واقعاتي تعلق اؤ دَ واقعاتي ادب سره دی. په دواړو کښې مرکزي کردار دَ لیکونکي خپل وي. په دواړو کښې واقعاتي صداقت لازمي عنصر ګڼلی شي. دَ دواړو دستاويزي حېثيت مسلم دی. په دواړو کښې زماني اؤ مکاني حقيقتونه په نظر کښې ساتلی شي اؤ په دواړو کښې دَ ذاتي تأثراتو اهميت تسليمولی شي خو په رپورتاژ کښې دَ فوري نوعيت څه هنګامي واقعه بنياد ګرځولی شي ولې په ډائري کښې ليکونکی دَ خپل ټول ژوند دَ واقعاتو احاطه کؤلی شي. ليکونکی دَ خپل ژوند اهم اؤ غېر اهم واقعات تاريخ وار ليکي. دَ ليکونکي په نظر کښې عموماً دَ ډائري چاپ کؤل نه وي. ځکه نو دَ هغه قلم پوره ازادۍ اؤ بې باکۍ سره هر څه په ازاد مټ ليکي.

بل طرف ته رپورتاژ دَ سماجي اؤ ادبي نوعيت څيز دی. دې کښې ليکونکی دَ خپل ذاتي ژوند غمونه، دردونه، پرېشاني، کاميابۍ په بحث کښې نه راولي. دَ رپورتاژ زر تر زره چاپ کؤل دَ ليکونکي نظر کښې وي. هغه څه واقعه، حادثه يا کانفرنس رپورټ کؤل غواړي اؤ هغه دغه ليك په خپل فني اؤ تخليقي نظر سينګار وي. په ډائرۍ کښې دَ اسلوب ادبيت يا دَ ښکلي والي خيال په نظر کښې نه شي ساتلی. دا بيله خبره ده چې که چرې ليکونکي لوئې اديب وي نو هغه په خپله ذاتي ډائري کښې هم دَ خپل ليك شان اؤ اسلوب جادوګري ښائي" (21).

زما تر فهمه دې رپورتاژ دَ ادبي اهميت حامل لازمي وي. دَ ډائرۍ دَ پاره داسې قسمه شرطونه اهميت نه لري. په ذاتي ډائرۍ کښې هر قسمه خبرې درج کؤلی شي لکه عشقيه وارداتونه، بې خوده خبرې، دَ ګناهونو اعتراف کؤل اؤ ښو خلقو سره دَ ظلم زياتي کؤلو تذکرې، غرض دا چې دَ هر قسمه مواد په هر قسمه اسلوب کښې محفوظولی شي.

بل خوا رپورتاژ ليکونکي ته دومره ازادۍ حاصلې نه وي. هغه په يوه ښېغه کرښه روان وي. هغه وروستو کتلی شي خو ډېر لرې تللی نه شي. دَ هغه هر دروغ نيولی کېدی شي. دَ هغې ګواهان هم موجود وي. ډائري عموماً دَ مصنف دَ مرګ نه پس چاپ کؤلی شي (مثال ئې دَ محترم ابو الکلام ازاد دَ (India wins freedom) "ازادئ هند" يا "هند ازادي غواړي" کښې هغه دېرش پاڼې يا مخونه وو چې هغه ئې سيل کړي وو اؤ وصيت ئې کړی وه چې دا دې زما له مرګه وروستو چاپ شي. اوس چې دغه متعلقه کتاب بيا چاپ شوی نو دغه دېرش مخونه يا پاڼې پکښې ځائې په ځائې خورې ورې راغلې دي ولې هغې کښې داسې څه دَ قدغن خبرې نشته چې ازاد صاحب ئې په نه چاپ کؤلو مجبور کړی وه ) نو په دې وجه ډائري ليکونکي ته په خپل ژوند کښې دَ دروغو اؤ رښتيا حساب کتاب ورکؤل نه وي. هم دغه وجه ده چې بالعموم په ذاتي ډائريو کښې دَ دروغو وئيلو ګنجائش ډېر کم وي. په ذاتي ډائرۍ کښې دروغ ليکونکی اخر څوك کېدی شي. په ذاتي ډائرۍ کښې عموماً

لیکونکی دَ خپل تېر شوي ژوند یادونه محفوظ کوي. دغسې ډائري دَ سوانح حیات یو بېل اؤ بدل شکل واخلي.

په ډائرۍ کښې لیکونکی دَ خپلو دوستانو اؤ رشته دارانو ذکر کوي خو داسې نه چې هغه دَ ژوندي کردارونو په شکل کښې څرګند کړي. په ډائرۍ کښې مکالمه نګاري منظرکشي اؤ نور ډرامائي عناصر په کار نه شي راوستی. دَ ډائري لیکونکي دَ ژوند تصویرونو اؤ ژوندو مکالمو یا منظرونو اؤ کېفیاتو یا دَ سترګو لیدلو دَ حال بیانولو پابند نه وي خو رپورتاژ دَ هغې اوصافو نه بغېر رپورتاژ وئیلو قابل نه وي.

په ډائرۍ کښې غېر ضروري، غېر دلچسپي اؤ خالص نجي/ ذاتي خبرې هم درج کؤلی شي. داسې خبرې چې هغې سره عام وګړي هېڅ دلچسپي نه وي. خو په رپورتاژ کښې دَ دې خبرو ډېر خیال ساتل پکار وي چې په رپورتاژ کښې کوم تفصیلات اؤ جزئیات بیان شي نو په هغې کښې دې ادبي حسن سره سره دَ عام لوستونکي دَ دلچسپۍ هم خیال وساتلی شي. تر څو چې ډائري چاپ شوې نه وي یا دَ هغې منظر عام ته دَ راتللو اجازت مصنف یا دَ هغوي دَ کورنۍ دَ طرف نه نه وي ملاؤ شوی نو دغه مسوده خفیه ساتلی شي. دَ دې حېثیت دَ ذاتي خطونو وي خو دَ دې برعکس رپورتاژ یو داسې دستاوېز وي چې دَ عام اولس دَ امانت په طور وقتي طور سره هغوي ته په چاپي صورت کښې سپارلی شي. دَ رپورتاژ په اُوږدوالي هېڅ قدغن نه شي لګېدلی خو دَ هغې ضخامت بالعموم دَ یو معلوم حد دننه ساتلی شي ولې په ډائرۍ هم داسې قسمه قدغن نه شي لګېدی. لیکونکی خو دَ چاپ کؤلو په خیال ډائري نه لیکي ځکه نو هغه ډېرې ډائرۍ لیکي اؤ دغسې دَ ژوند یوه قیصه تیارېږي. دَ ډائرۍ دَ پاره دَ لیکونکي ادیب جوړېدل ضروري شرط نه وي خو دَ رپورتاژ لیکلو دَپاره ادیب جوړېدل لاژمي شرط دی.

دا رنګ لېوني فلسفي دَ ذاتي ډائرۍ یوه فوټو کاپي ما سره خوندي ده خو هغې کښې ځینې نظمونه اؤ خبرې داسې دي چې دَ چاپ کؤلو نه دي اؤ که څوك ئې دَ چاپ کؤلو توان لري نو را دې شي چې ورله ئې ورکړم. ځان له دې ئې چاپ کړي خو دَ بهرام خان اؤ مشال خان نه به ئې دَ چاپ کؤلو اجازت ضروري وي. ولې پښتو کښې داسې ډائرۍ هم لیکلی شوي دي چې هغه ډېرو مستندو شاعرانو ادیبانو لیکلي دي لکه زما لوستونکیو به دَ نور البشر نوید په "لیکوال" مجله پېښنور کښې دَ اجمل ختك دَ ډائرۍ ډېر ټوکونه لوستي وي چې په ادبي پېرایه کښې لیکلی شوي دي. ځینې ډائرۍ دَ مردان شعېب صادق سره ما په خپله لیدلي دي چې هغه کمپوز کؤلې خو لاچاپ شوې نه دي. دغه رنګ دَ ښاغلي ډاکټر اسرار یو رپورتاژ "زما ډائري" چې هغوي ورته تکل وائي دَ خپلو تکلونو مجموعه "دَ تکل په تکل" کښې ئې چاپ کړی دی یو بهترین ډائري نما رپورتاژ دی ورته وئیلی کېدی شي ځکه چې رپورتاژ کښې هم دغه څه وي څه چې دَ دغه تکل نس لري.

**رپورتاژ اؤ ډرامه**

ډرامه ډېر زوړ صنف دی اؤ دَ دنیا دَ هرې ژبې په ادب کښې دَ ډرامې وجود شته. ډرامه په لیك کښې ضرور موجوده وي خو په اصل کښې دا عملي طور کېږي اؤ کتونکو ته دَ سټېج له لارې وړاندې کېږي. اوس خو دَ رېډیو فلم، اؤ ټي وي له لارې ډرامې خپل یو ځان له حېثیت په خلقو منلی دی اؤ ډېر په شوق ئې اوري اؤ ګوري. په ډرامه کښې دَ مکالو، کردارونو، منظر اؤ دَ سټېج دَ لوازماتو په ذریعه قیصه یا واقعه پېش کېږي. ډرامې ډېرې اوږدې هم وي اؤ ډېرې مختصرې یو باب لرونکی اؤ دَ خاکې وغېره حجم هم دَ کوم ناول یا افسانې یا قیصې دَ ډرامې په صورت کښې لیکلی شي.

ډرامه دَ لوستو نه زیاته دَ کتلو څیز دی. دَ فلم، ټېلې وژن اؤ رېډیو په ذریعه اؤ دَ سټېج په ذریعه مختلف قیصې دَ ډرامې په شکل کښې پېش کېږي. عامې ډرامې په تحریري شکل کښې یا دَ سکرپټ په صورت کښې زیاتې ژوندۍ اؤ اثر لرونکي په نظر راځي خو دَ لویو ادیبانو ډرامې دَ سټېج نه بهر په کتاب کښې هم خپل وجود لري. په دې کښې ادبي حسن اؤ ډرامائي کېف دومره زیات وي چې په لوستو کښې ترې هم دَ کتلو خوند سړی اخستی شي. اؤ هغه منظرونه ئې تر سترګو کېږي اؤ په زړه اؤ ذهن اثر انداز اؤ نقش کېږي چې ډرامه ئې لري. دې لړ کښې اوس زمونږ باچا خان پوهنتون کښې چې دَ پېښور رېډیو سره څنګ کښې دَ "پیس کاروان قدم په قدم" (NGO) سټېج ډرامه ډېره موده له خوبه راولټوله نو په نامتو ډرامه نګار ښاغلي نور البشر نوید ئې ډېرې جذباتي اؤ پُراثره ډرامې تخلیق کړې چې پکښې "باور" اؤ "ارمان" شاملې دي. دا کېفیت دَ لاهاني ډرامه نګار شېکسپیئر په ډرامو کښې ډېر زیات په نظر راځي. دَ ټولې دنیا لوستي خلق نه صرف دَ هغه دَ ډرامو نه خبر دي بلکې هغه لولي اؤ خوند ترې اخلي اؤ که دَ چا یقین نه راځي نو په درې میاشتنۍ مجله "تاتره" پېښور کښې په قسطونو کښې چاپ شوې دَ شېکسپیئر دَ "مېکبث" ډرامې دَ قلندر مومند صاحب ترجمه لوستلی شي.

له دوي وړاندې دَ اغلې رضیه سلطانه هم دغه ډرامه دَ "مېکبتهـ" په نامه په "ننګیالی" مجله پېښور کښې یو څو ټوکونه چاپ شوې وه خو بیا پوره شوې نه ده. دغه رنګ قلندر مومند صاحب خپله یوه مقاله کښې دَ دوست محمد خان کامل مومند دَ شکسپېئر دَ ډرامې "مېکبث" دَ ترجمې تذکره هم په خپلو زرینو لفظونو کښې کړې ده. زما درانه لوستونکي دَ پښتو اکېډیمۍ پېښور پوهنتون په پخوانیو مجلو "پښتو" کښې دَ شکسپېئر دَ ډرامې "دَ وینس سوداګر" ترجمه چې دَ امیر المتغزلین امیر حمزه خان شینواري زوي ښاغلي مراد شینواري په ازاد نظم کښې ترجمه کړې ده چې دَ 63-1962ء په شماره کښې دَ 84 مخ نه تر 94 مخ پورې لسو مخونو کښې چاپ شوې ده. کتلی اؤ لوستلی شي. دغه رنګ دَ اکېډېمۍ دَ پخواني ډائرېکټر پروفېسر محمد نواز طائر ډرامه "خوشحال خان خټك په روس کیپل هال کښې" هم لوستی شي. یاد لرل پکار دي چې هر کله ډرامه په کتابي صورت کښې

چاپ وي نو بیا خو دَ لوستلو څیز دی اؤ کله چې په ستېج ښئیلی شي نو بیا دَ کتلو شی دی.
ډرامه یو جدا فن اؤ دنیا ده. ستېج کؤل ئې تکنیك دی. سکرپټ یا تحریر دَ دې دَ پاره دَ بنیاد حېثیت لري خو دلته کښې په ابتدا کښې سکرپټ له زیات اهمیت نه دی ورکړی شوی اؤ ډرامه نګاران په منشي یادېږي چې په فرمائش دَ هر قسمه ډرامو لیکلو استعداد لري خو روستو دَ ډرامه نګارانو حېثیت اؤ اهمیت ومنلی شو. دَ ډرامې اؤ رپورتاژ په خپلو کښې څه موازنه اؤ مقابله نشته ځکه چې ډرامه دَ افسانوي ادب اؤ رپورتاژ دَ واقعاتي ادب حصه ده چونکې په ډرامه کښې دَ قیصې عنصر غالب وي. دَ دې وجې نه دَ دې موازنه مونږ دَ نورو افسانوي صنفونو لکه ناول، افسانې وغېره سره کؤلی شو البته یو صفت داسې دی چې په ډرامه اؤ رپورتاژ کښې مشترك قدر لري اؤ هغه دی لفظي تصوّر.
ډرامه لیکونکي ته ډرامائي وسائل یعني ستېج، مائېك، پردو وغېره سهولتونه میسروي اؤ رپورتاژ نګار دا ټول کارونه صرف دَ لیکلي لوستلي لفظونو په ذریعه کوي اؤ صرف دَ لفظونو په ذریعه دَ منظرونو تصویرکشي کؤل ډېر ګران کار دی اؤ هم دغه ګران اؤ دَ کړان کار رپورتاژ کوونکي ته کؤل پکار وي. په ډرامه اؤ رپورتاژ کښې دَ کردارونو اؤ مکالماتو قدر مشترك درجه لري. دلته هم دغه صورت حال وي چې ډرامه نګار خپل کردارونه په مختلفو رنګونو، مخونو اؤ لباسونو کښې مخې ته راولي خو دغه کار رپورتاژ نګار له دَ خپل تحریر په ذریعه کؤل وي اؤ هم دا دَ ده هُنر ګڼلی شي چې دَ څو الفاظو په استعمال داسې پېکر وتراشي چې هغه دَ ژوندي کردارونو نه هم مضبوط اؤ ژوندی وي.
رپورتاژ نګار اکثر په دې کښې کامیاب وي. دَ متحرکې تصویرکشي په باب کښې ډرامه، افسانې اؤ دَ ناول په مقابله کښې رپورتاژ سره ډېر جُخته ده خو په ډرامه کښې یو واضح پلاټ اؤ یو مقرر شوی پروګرام وضع شوی وي ولې دَ رپورتاژ لیکونکي واقعات په یوه نېغه کرښه روان وي خو کله کله دَ پاټلی نه هم وخوئېږي.
دَ خدائي خدمتګار تحریك 1930ء نه وړاندې چې کومې ستېج ډرامې ښاغلي عبدالاکبر خان اکبر دَ "تربور"، "تعلیم جدید، تهذیبِ جدید"، "خدائي خدمتګار" اؤ "جونګړه" وغېره په نامو لیکلې وې هغې کښې زماني و مکاني تقدیم و تاخیر اؤ دَ ادلون بدلون ګنجائش دَ کم نه کم وه . دغه بدلونونه به ئې دَ مکالمو یا دَ تحریر په ذریعه واضح کؤل یا دَ امیر نواز خان جلیا "درد" اؤ دَ فضل کریم دَ پېو "خدائي خدمتګار" یا دَ اسلامیه کالج پېښور په خېبر یونین هال کښې دَ ډاکټر محمد اعظم اعظم په ستېج پېش کړې ډرامې هم دغه کېفیات لري. اوس په الېکټرانك مېډیا دَ ډرامې مخې ته راتللو نه پس صورت حال مکمل بدل شوی دی اؤ په دې مېدان کښې نوي نوي تجربات کؤلی شي. دَ دې عکسي انقلاب نه پس رپورتاژ هم دَ یو عکس صنف سره مشابه کؤلی شي نو هغه دَ یو دستاوېزي پروګرام چې یو رښتوني تخلیق کار په تخلیقي افسانوي انداز کښې پېش کړی وي. په رپورتاژ کښې دَ

تاریخ اؤ حقیقت نه بې له مخ اړولو رښتیا په صحیح رفتار خپله پاتلې باندې روان بیانولی شي.
ډرامه اؤ رپورتاژ دَ یو بل نه مختلف اصناف دي خو په رپورتاژ نګارۍ کښې دَ ډرامائي اوصافو اؤ عناصرو مثلاً دَ کردار نګارۍ اؤ مکالمو (خبرو اترو) نه ښه فائده اوچتولی شي. خاص کر په رپورتاژ لیکلو کښې دَ ډرامائي تجسس (suspense) پیدا کؤلو دَ پاره دَ ډرامائي تکنیك نه کافي استفاده اخستی شي.

**رپورتاژ اؤ صحافت**

"رپورتاژ نګاري اؤ صحافت خپلو کښې ډېر کلك تړون لري اؤ بیا جدیده مغربي رپورتاژ نګاري خو دَ صحافت نه زیږېدلې ده. په مغرب کښې خو دَ زیاتره رپورتاژ لیکونکیو تعلق صحافت سره دی. صحافي ادیبانو یا ادیب عارضي، هنګامي اؤ جنګونو واقعې اؤ کېفیتونو باره کښې یو ذاتي تاثر دَ خپل معمول نه علاوه لیکلی دی هغه دَ اخباري رپورټ په ځائې دَ یو نوي نوم "رپورتاژ" په نامه مشهور شو. څنګه چې په صحافت اؤ رپورتاژ کښې هنګامي واقعې هم هغه شان بیانېږي اؤ دَ لیکلو نه پس دَ څه تاخیر نه بغېر چاپ هم شي ځکه ځینې خلق رپورتاژ دَ صحافت حصه ګڼي اؤ زیات نه زیات وئیلی شي چې هغه صحافت چې بیا ادب شي رپورتاژ دی خو خبره صرف دومره نه ده. دَ دې غټه وجه اؤ غټ ثبوت دا دی چې زمونږ رپورتاژ نه خو صحافتي ضرورتونو لاندې لیکلی شوي دي اؤ نه دَ دې لیکلو واله صحافیان دي. دا درسته خبره ده چې 1857ء دَ جنګ ازادۍ نه پس مقصدي اؤ ګټه ور ادب دَ علي ګړه تحریك په وجه ادب اؤ صحافت سره وتړلی شو اؤ خالص ادیبانو اؤ عالمانو زر تر زره زیات نه زیات لیکونه وکړل اؤ کتابونو سره سره دَ ادبي علمي رسالو اؤ اخبارونو په ذریعه ئې عامو خلقو ته رسول شروع کړل.
دَ ادب که صحافت سره هره رشته وي خو دا ثابته ده چې ادب کښې واقعات اؤ مشاهدې دَ صحافت په انداز اؤ نمونه نه شي وړاندې کېدی. دَ ادب واقعیت اؤ صداقت خپله اله ده. دې نه چې یوه واقعه کله رپورټ شي نو هغه صحافت نه بلکې ادب شي. دَ مېتهیو اٙرنلډ دا تعریف چې "ادب اؤ شعر دَ ژوند تنقید دی" نو دا دَ شاعرۍ صداقت اؤ دَ شاعرۍ حسن سره دَ رپورتاژ په فن بیخي صحیح راځي. دَ یوې واقعې هم هغه شان نقل کؤل صحافت دی اؤ ادب هم دَ دغه واقعې دَ خپل وجود حصې جوړولو نه پس هم هغه واقعه په شاعرانه حسن و خوبۍ اؤ ادبي پېرایه کښې وړاندې کؤل ادب دی. اصل کښې دَ یوې موضوع مواد چې څه هم وي هغه اهم غېر اهم صحافیانه اؤ ادبي نه وي. اسلوب صحافیانه اؤ ادبي کېدی شي. دَ رپورتاژ حسن اؤ انفرادیت هم دا دی چې یو تخلیق چې ادبي اسلوب لري یوې حقیقي اؤ رښتوني هنګامي واقعې یا حالات اؤ واقعاتو باندې لیکلی شي" (21)
زمونږ پښتنو مشرانو چې څه لیکلي دي دَ ادب حصه شوې ده. داسې هم وئیلی شو چې زمونږ رپورتاژ نګاري دَ صحافت دَ هغه خصوصیاتو نه پاکه وه دَ څه په وجه چې ادب اؤ صحافت دواړه یو ځائې

کېدی نه شي. دلته رپورتاژ نګاري دَ ادب اؤ صحافت دَ مینځ کړی یا دَ ګټ خبنته نه ده، خالص ادبي صنف دی. رپورتاژ نګاری اؤ صحافت کښې یو بنیادي فرق دا هم دی چې صحافتي لیك دَ جذباتو اؤ احساساتو نه خالي وي اؤ محض یو خبر وي اؤ رپورتاژ دَ خبر نه زیات دَ داخلي کېفیت اظهار وي. صحافت کښې دا هڅه کؤلی شي چې خبر کښې ذات اؤ جذبه شامله نه وي. صحافتي لیك پیکه، بې رنګه اؤ ادب نه خالي وي اؤ رپورتاژ انداز بیان دَ دې جان وي. یعني رپورتاژ کښې صرف یو خبر نه بلکې دَ رپورتاژ نګار خپل جذباتو اؤ احساساتو اظهار هغې کښې شامل وي. خو یو خبر یا واقعه پوره حقیقت سره بیانولو په وجه دَ صحافت اؤ رپورتاژ دواړه خپلو کښې لږ ډېر تړون لري. په حقیقت کښې صحافت دَ یو اسلوب نوم دی اؤ رپورتاژ یو ادبي صنف دی.

"دَ ادب اؤ صحافت دَ یووالي مسئله په رپورتاژ کښې به وي خو اُردو ادب دې باره کښې ډېر خوش نصیب دی چې دلته دَ دواړو دَ تړون نه څه بحران نه وی پېدا شوی. مذهبي اؤ ادبي صحافت په خپل خپل ځائې مضبوط کړی ښکاري خو دلته صحافتي اسلوب رپورتاژ نه دی متاثره کړی. رپورتاژ کښې صحافت صرف متن اؤ مواد اؤ زر تر زره چاپ کؤلو نه سېوا نور ادبیت باندې اثر نه دی غورځولی. دا کرېډټ زمونږ لوئې لوئې ادیبانو ته ځي چې دَ رپورتاژ نګارۍ دننه ئې هم ادبي رنګ غالب ساتلی دی.

دوېمه دا خبره هم دَ منلو ده چې خالص صحافیانو رپورتاژ لیکلی دی نو ادبي نړۍ دَ دوي حېثیت نه دی تسلیم کړی. دَ دې ثبوت دا دی چې زمونږ دَ ځینو صحافیانو سفرنامې ادیبانو تسلیم کړې دي اؤ نه ئې رپورتاژ ته حېثیت ورکړی دی. زمونږ دَ ادب دَ رپورتاژ نګارۍ ذوق دَ صحافیانو ورونو نه ډېر اوچت دی. ادب کښې په زرګونو سفري لیکونه ئې سفرنامې خو ګڼلي دي ولې رپورتاژ نګارۍ دَ پاره ئې سفرنامې نه ډېر زیات شرطونه لګولي دي (22).

**رپورتاژ اؤ افسانه**

څنګه چې رپورتاژ اؤ سفرنامه یو شان والی لري اؤ ځینې سفرنامې رپورتاژ ګڼلی شي داسې رپورتاژ اؤ افسانې هم یو بل سره ګډ وډ کړی شوي دي خو دَ افسانې اوږدوالي، حجم اؤ دَ مجازیت په موجودګۍ کښې هم ځینې افسانې رپورتاژ ګڼلی شي. دَ دې ښکاره مثال دَ قدرت الله شهاب افسانه "ای بنی اسرائیل" ده دا مختصره افسانه هر نقاد دَ رپورتاژ په صنف کښې وراچولې ده. دا درسته ده چې دا افسانه په حقیقت مبني ده. دې کښې دَ سفر عنصر موجود دی. دې کښې لیکونکی په خپله شامل اؤ یو مرکزي کردار دی خو دَ دې باوجود دَ دې دَ حد نه سېوا اختصار دَ دې دَ کردارونو غېر اصلي کېدو اؤ دَ څه لوئې واقعې، حادثې یا جنګ دَ رپورټ دَ کمي په وجه دا واقعاتي یا حقیقي رپورتاژ ګڼل مشکل دي. داسې دَ نقوش افسانه نمبر 110 (نومبر 1968ء) کښې محمد طفېل دَ اشفاق احمد مختصر سفري روداد "چنګو یا چیستان" اؤ اختر ریاض الدین مختصرې سفري افسانې "ډانګ

کانگ" دَ رپورتاژ په زمره کښې شامل کړي دي اؤ دليل ئې دا دی چې هغه څه چې دَ افسانې سره لږ ډېر هم نزديکت لري ما دې فهرست کښې شامل کړل.

دا درسته ده چې ادب هر صنف خپل مواد دَ حقيقي ژوند نه اخلي تر دې چې زاړه داستانونه چې مافوق الفطرت کردارونو اؤ محير العقول څيزونه پکښې هم وي، هغوي هم دَ ژوند واقعات دَ داستانونو په شکل کښې وړاندې کؤلو باندې مجبور وو. دَ انسان تخيل دومره لوړ هم نه وي، انسان اوسېږي هم په زمکه. هغه يو کردار دَ کاڼو خوړلو اؤ دَ اور پَکلو په شکل کښې نه شي وړاندې کؤلی. دَ خوراك څښاك په وخت کښې روټۍ، ترکاري (زېمنه)، وريژې، غوښه، سبزۍ، مېوه دانه، اوبه ، ماسته شوملې دَ هغه دَ کردار خوراك وي.

داسې تقريباً دَ ادب دَ هر صنف اسلوب به ادبي اؤ شعري حسن لري نو ولې هغه صنف به ادبي صنف وي؟ دَ ادب دَ پاره اهمه نکته مواد اؤ متن وړاندې کؤل وي. يو طريقه براه راست وي اؤ بله طريقه بالواسطه وي. وړومبۍ طريقه کښې واقعات څنګه دي؟ چرته دي؟ په کوم شکل و صورت کښې په ادبي اسلوب کښې وړاندې کؤلی شي. داسې دوېمه طريقه کښې ژوند هم حقيقتونو اؤ مجازي رنګ اؤ اسلوب کښې وړاندې کؤلی شي. دَ ادب يو قسم کښې دَ حق دَ مشاهدې باوجود دَ باده اؤ ساغر علامتونو يا استعاره کښې بيان کؤلی شي او دوېم کښې مشاهده حق په شکل کښې داسې وړاندې کېږي چې دَ ادبي حسن دَ تحرير حصه جوړه شي. ټولو نه لوئې فرق دَ رپورتاژ اؤ افسانې تر مينځه دا دی چې افسانه کښې يوه واقعه قيصه شي خو په رپورتاژ کښې واقعه هم خپل نوم تاريخ، مقام اؤ اصل جزئيات نګارۍ سره موجوده وي. دې فرق ته دَ مجاز اؤ حقيقت فرق وئيلی شی. دَ رپورتاژ اؤ افسانې دوېم لوئې فرق دا دی چې دَ رپورتاژ کردارونه اصلي وي اؤ افسانوي کردارونه دَ ليکونکيو خپله ذهني اختراع وي. ښه وي که بد هر چا ته په خپل شکل څرګندېږي.

رپورتاژ کښې مکالمې اؤ منظرې، خاطرې، ښارونه، غرونه، لارې، کوځې، ګودرونه، اډې، تانې، تحصيلونه، ائېرپورټونه ټول حقيقي وي خو افسانه کښې دا هر څه افسانه نګار دَ خپل ذهن نه ليکي. رپورتاژ نګار يا سفرنامه نګار که چرته دَ تخيل په ذريعه مصنوعي کردار راولي نو دَ ائېرپورټ، رېلوی سټېشن اؤ فټ پاتھ په رش کښې ئې وړاندې کؤلی شي. هغه هم داسې صورت کښې چې څوك ګواه نه وي ګنې بيا به دَ ده دروغ نيولی کېږي اؤ غلا به ئې پيازېږي. زمونږ رپورتاژ نګارو، سفرنامه نګارو خپلو ليکونو کښې افسانوي رنګ داخل کړی دی. دَ دې لوئې مثال دَ ابراهيم جليس رپورتاژ "دو ملک ايک کہانی" چې قلندر مومند صاحب دَ "دوه ملکونه يوه قيصه" په نامه ترجمه کړی دی کښې ښه ښکاره ده (وړاندې ئې هم ذکرشوی دی). ابراهيم جليس څنګه چې جهاز کښې يواځې شي نو ائېر هوسټس سره ښه فضائي معاشقه کوي ځکه سياح اؤ رپورتاژ نګاران يواځې پرېښول ډېر خطرناك وي. بل پله پکښې دَ سياست اؤ تاريخ سره هم غلبه دي.

"دَ رپورتاژ اؤ افسانې يو بل فرق دا دی چې افسانه کښې يو پلاټ وي څه کښې چې واقعات دَ ليکونکي دَ ذهن مطابق مخکښې روان دي اؤ خپل فطري انجام ته رسي. دَ افسانې اختتام يو دم کېږي خو رپورتاژ دَ دې قسمه پابندو نه ازاد وي. دَ دې پلاټ دَ يوې واقعې بيانول وي او دَ خپل مقصد دَ سفر په اختتام خپل ليك چې "چرته دی؟ اؤ څنګه دی" ختم کړي؟ افسانه وحدت تأثر لري. شعوري کوشش سره افسانه الميه اؤ طربيه کېدی شي. دَ رپورتاژ انحصار صرف په اصل موادو وي. افسانه نګار خپل تخيل په کار راولي اؤ رپورتاژ دَ ليکونکي ازادي نه محدودوي. هغه دَ جهاز يا رېل دَ کېړکۍ نه بهر منظر کشۍ کښې خپل تخيل شاملؤلی شي.

رپورتاژ نګار ته فطري منظرونه، کردار نګارۍ، مکالمه نګارۍ، جذبات نګارۍ په ذېل کښې دَ افسانه نګار په شان کافي مراعات حاصل شي. که هغه وغواړي نو کرشن چندر ''لاہور سے بہرام گلہ تك'' منظر دَ افسانې په شان پېش کؤلی شي يا په "پودے" کښې دَ رېل ګاډي تفصيلات ادبي جذيات نګارۍ اؤ پوره شاعرانه صداقت سره بيانولی شي اؤ ابراهيم جليس دَ "جیل کی دن اور جیل کی راتیں" په شان دَ ژوندي کردارونو تخليق کؤلی شي. دې معاملاتو کښې رپورتاژ نګاري اؤ افسانه نګارۍ کښې ډېر نزديکت راشي. افسانه نګار خپله افسانه کښې دَ خپل ذات شاملولو نه بغېر دَ يو پلاټ، کردار، منظر يا ماحول افسانه ليکلی شي خو رپورتاژ نګار په خپله دَ خپل بيانيه انداز دَ خپلې قيصې هيرو اؤ مرکزي کردار وي. ټول واقعات دَ ده په سترګو ليدلی کتلی شي.

افسانه نګار دَ وخت اؤ مقام قېدي نه وي. هغه چې خپله قيصه کوم ځائې کوم وخت سره تړي، تړلی شي خو رپورتاژ نګار داسې نه شي کؤلی. افسانه نګار دَ پاره ضروري نه ده چې خپل شناخت وکړي خو رپورتاژ ليکونکي څه نا څه حده پورې خپله بائېو ډېټا وړاندې کوي. دَ رپورتاژ اؤ افسانې يو غټ فرق دا دی چې دَ رپورتاژ ضخامت دَ افسانې نه زيات وي. لکه چې ''زندگی زنداں دِلی کا نام ہے'' نومې رپورتاژ دَ ضخيم کتاب شکل کښې راغلی دی. رپورتاژ نګاري دَ جزئيات نګارۍ نه واخله تر منظر نګارۍ اؤ دَ داخل نه تر خارج اؤ دَ خارج نه تر داخل پورې سفري کېفيت اظهار هم وي ځکه اُردو کښې افسانې اؤ سفرنامې خو ډېرې دي ولې رپورتاژونه يو نيم سلو نه سېوا نه دي"(23).

سفرنامې اؤ رپورتاژ کښې چې کوم قدرونه مشترك دي هغه دا دي:

1. حقيقت اؤ واقعيت نګاري
2. غېر رسمي اغاز اؤ انجام
3. دَ يو واضح منضبط پلاټ عدم موجودګي
4. دَ واقعاتو دستاوېزي اؤ افسانوي بيان
5. دَ ليکونکي دَ خپل ليك مرکزي کردار کېدل
6. دَ خاکه نګارۍ، جذيات نګارۍ اؤ مکالمه نګارۍ مواقع پېدا کؤل اؤ ځائې په ځائې استعمالول

7. دَ وحدت تأثر موجودګي
8. دَ ژوند دَ مخصوصې دورانيې روداد، تاريخ اؤ دَ واقعاتو تذکره
9. حقيقت سره سره دَ تخيل بيان

کوم څيزونه چې سفرنامه اؤ رپورتاژ له يوه بله بيلوي هغه څه په دې ډول دي:

1. رپورتاژ دَ يوې خاص واقعې، حادثې يا جنګي حالاتو رپورټونو پورې محدود وي.
2. سفرنامه کښې سفر دَ ليك مقصد وي رپورتاژ کښې سفر محض يوه وسيله وي.
3. دَ سفرنامې اؤ رپورتاژ په حجم کښې هم فرق وي. سفرنامې دَ پاره ضخامت ضروري څيز وي اؤ رپورتاژ اوږد اؤ مختصر کېدی شي.
4. سفرنامې کښې دَ جسماني اؤ جغرافيائي سفر زيات اهميت وي اؤ رپورتاژ کښې دَ ذهني، جذباتي اؤ دَ روماني سفر دَ کېفياتو زيات اهميت وي.
5. رپورتاژ کښې يو ليکونکی بالعموم واحد متکلم صيغه استعمالولی شي بلکې خپل نوم سره خپل کردار وړاندې کؤلی شي.
6. دَ سفرنامې مقصد واضح نه وي. سفر دَ سياحت دَ پاره سفر دَ ملازمت (کاروبار) دَ پاره سفر دَ ديني اجتماع (حج اؤ عمره يا يوه مذهبي اجتماع) دَ پاره، سفر دَ هجرت دَ پاره اؤ سفر دَ ضرورت دَ پاره مقصد کېدی شي اؤ دَ دې برعکس دَ رپورتاژ مقصد دَ سفر واضح نه وي. دَ هغې سفر مقصد اؤ دورانيه معين وي اؤ دَ دې غېر معينه.
7. دَ سفرنامې دَ پاره دَ ادبي، سياسي، هنګامي واقعاتو يا جلسو رپورټونه ضروري نه دي. رپورتاژ کښې دَ مقصد سره تړليو علمي، ادبي اؤ نفسياتي کېفيتونو ذکر وي.
8. سفرنامه کښې دَ خپلو اؤ سياسي سماجي حالاتو دَ جغرافيائي تاريخ موازنه نورو ملکونو سره کؤلی شي اؤ رپورتاژ کښې دا نه وي.
9. سفرنامو کښې سفرنامه نګارانو بالعموم دَ جزئياتو خيال ساتلی دی يا ئې دَ ډېرې زياتې منظرکشۍ نه کار اخستی دی.
10. رپورتاژ کښې خبر وي خو وحدت تأثر پکښې هم وجود لري يعني څه دَ پاره چې ليکونکی تلی وه هغه پوره طور سره بيان شو که نه ؟ خو سفرنامه کښې سفر کوونکي دَ وسيع کائنات نقشه بيانوي.
11. سفرنامه کښې اوربدلې خبرې، لطيفې اؤ دَ نورو داسې ډېرو خبرو بيان وي خو رپورتاژ کښې دَ دې ګنجائش لږ تر لږه نه وي.
12. دا تأثر صحيح نه دی چې رپورتاژ دَ سفرنامې بدل شوی شکل و صورت دی يا رپورتاژ اؤ سفرنامه مور اؤ لور دي يا دوه خوېندې دي. که داسې وي نو سفرنامه نګارو به رپورتاژ هم ليکلو

اؤ رپورتاژ نګارو به سفرنامې هم لیکلې. اُردو کښې که سفرنامې څه هم ډېرې لیکلې شوي دي خو رپورتاژونه پکښې ډېر زیات نه دي لیکلي شوي. بیخي هم دغه شان پښتو ژبه اؤ ادب کښې هم دا صورتحال دی چې سفرنامې اؤ رپورتاژونه پکښې ډېر زیات نه دي لیکلي شوي اؤ دې پله پام کم راګرځولی شوی دی.

لکه چې مونږ ته معلومه ده رپورتاژ فرانسیسي لفظ دی اؤ لغوي معنٰی ئې رپورټ ده. په اصطلاح کښې رپورتاژ دَ سترګو لیدلي حالاتو اؤ واقعاتو هغه رپورټ دی چې هر څو که په معروضي واقعاتو اډانه لري خو دَ لیکونکي تخیل اؤ دَ واقعاتو په باره کښې دَ هغه موضوعي رویه، په دغو واقعاتو کښې یو بصیرت بخښونکی معنویت اؤ یو فکر ورکونکی چاپېرچل جوړوي.

دَ 1930ء خواو شا په یورپ کښې دَ سیاست اؤ معیشت مسئلو دَ ابدي مسئلو نه زیات اهمیت پېدا کړی وه . افراط زر دَ هټلر اؤ مسولیني تباه کوونکیو ادارو، اؤ 36ء کښې دَ سپېن دَ کورني جنګ غوندې مسئلو، ادیبان دَ وقتي اؤ هنګامي مسئلو نه ډېره کؤلو ته مجبور کړل. ولې دا نه شوه کېدی چې په یوه وقتي مسئله لوئې ناول یا اوږد نظم لیکلی شوی وی. خو دا هم ممکنه نه وه چې یو ادیب دې دَ لوئې ادب په زېږولو اخته شي اؤ په ورځني سیاسي اؤ معاشي مسئلو لیکل ونه کړي یعني دَ یو ادیب دَ پاره په ورځني ستونزو لیك کؤل هم ضروري وو اؤ خپلې لیکنې له دَ ادب رنګ هم ورکؤل وو، هسې نه چې تش صحافت ترې جوړ شي. دَ دې دواړو رجحانونو دَ تېل ناتېل نه دَ رپورتاژ صنف مېنځ ته راغی. دَ رپورتاژ لیکونکي په ډاګه مني چې مونږ ادب نه زېږوو بلکې خپل مشاهدات اوروو. دا وجه ده چې رپورتاژ دَ ادب باقاعده صنف نه دی ولې دا کېدی شي چې یو رپورتاژ په ځانګړي توګه دَ ادب درجه ونیسي. رپورتاژ دَ رواني زمانې سره اړیکې لري اؤ دَ ماضي اؤ مستقبل سره هېڅ پېوستون نه لري. رپورتاژ دَ تخیل، ایجاد اؤ اختراع دَ پاره نه بلکې دَ واقعاتو دَ ترتیب، تدوین اؤ څېړنې دَ پاره پکارولی شي. رپورتاژ دَ یو خبریال دَ رپورټ نه په دې بل شان دی، چې دَ یو خبریال اصلي کار پېښې بیانول دي. دَ هغوي تشریحول اؤ سپړل نه دي لېکن په رپورتاژ کښې دَ هغوي په معنوي اړخ زیات زور ورکړی کېږي. رپورتاژ هم دَ دې دَ پاره لیکلی کېږي چې کوم واقعات دَ یو سړي په مشاهده کښې راغلي دي په هغوي کښې څه سماجي یا انساني معنویت هغه ته په نظر راځي. دغه وجه ده چې په رپورتاژ کښې اصلي څیز واقعات نه دي بلکې هغه معنٰی ده چې لیکونکي په دغو واقعاتو کښې لیدلي دي. پېښې بیانول دَ هغه معنویت لوستونکي ته دَ رسولو یوه وسیله ده. رپورتاژ نه خو په پوره ډول صحافت دی اؤ نه ادب.

ډاکټر اعجاز حسېن لیکي چې "رپورتاژ لیکونکي ادیب ته دَ ذاتي مشاهدې تر څنګه یو ډاګیزه سیاسي اؤ سماجي نقطه نظر، دَ مؤرخ قلم، دَ ادیب دماغ اؤ دَ مصوّر نظر هم پکار دی." دَ هغه په خیال "دَ کرشن چندر رپورتاژ "پودے" کښې شاو خوا هغه ټول خصوصیات تر سترګو کېږي چې دَ یو کامیاب رپورتاژ دَ پاره ضروري ګڼلی کېږي."

هسې خو که مونږ دَ جدید لفظ "رپورتاژ" نه اخوا پخوانیو نثري اٰثارو کښې دَ "رپورتاژ" دَ موادو لټون کوو نو اولني څرکونه اؤ درکونه ئې دَ ستر خوشحال خان خټك په "بیاض" کښې لګي چې دَ هغه دَ امروزه ژوند روزنامچه یا ډائري وه اؤ څه چې به کېدل، کومو حالاتو، واقعاتو سره چې به مخ کېدو اؤ څه به ئې په زړه اؤ ذهن کښې راتلل اؤ څه به ئې محسوسول هغه به ئې په شاعرانه صداقت اؤ ادبي دیانت دغه "بیاض" ته خېژول، چې وروستو دَ هغه نمسي افضل خان خټك (لکه چې وړاندې هم وئیلي شوي دي) لکه دَ تاش دَ پاڼو په خپل تاریخي دستاویز اؤ دَ خټکو دَ کورنۍ په تاریخ "تاریخِ مرصع" کښې لړلي (ورګډ) کړي دي. "هندو کوه نامه" ترې ښاغلی حبیب الله رفیع رابیله کړې اؤ ځان له ئې د پمفلټ په شکل کښې چاپ کړې ده چې د تاراکړ د جنګ او مهم حال بیانوی د رپورتاژ صنف ته ډېره نژدې غوره نمونه ده اؤ که دَ خوشحال بابا اؤ دَ هغه له کورنۍ هم وړیسې لږ مخ په پورته خېژو نو بیا دَ بایزید انصاري پیر روښان "حالنامه" ده چې وروستو دَ هغوي معنوي شاګرد اؤ مرید علي محمد مخلص تکمیل ته رسؤلې ده اؤ په هغې کښې دَ روښانیانو تفصیلي حالات اؤ واقعات بیان شوي دي. خو هر کله چې دغه "حالنامه" فارسۍ کښې ده که پښتو ته ترجمه شوه غوره رپورتاژي مواد لرونکې ترجمه به وي. دَ "دبستانِ مذاهب" لیکونکي چې خپل کتاب کښې دَ "روښانیانو حالات" (دَ راقم پښتو ترجمه کړې) بیانؤل نو دَ پیر روښان یو بل معنوي شاګرد واصل روښاني سره ئې لیدل کاته شوي وو خو مونږ بیرته شلمې پېړۍ ته راګرځو اؤ دَ حضرت عبدالغفار باچا خان فخرِ افغان دَ 1930ء نه تر 1940ء اؤ بیا 1947ء دورې ته به راشو اؤ په "پښتون" هفته وار/ میاشتنۍ مجله کښې به دَ رپورتونو اؤ رپورتاژونو دَ څرکونو درکونه ولګوو څه هم که تر دغه وخته دَ "رپورتاژ" لفظ معنوي طور سره پښتو کښې نه وه رائج شوی اؤ وروستو دَ 51-1950ء نه تر 1957ء دَ انګرېزۍ له لارې اؤ بیا دَ اردو په ذریعه دَ "اولسي ادبي جرګې" لکه دَ نورو ډېرو صنفونو ورکړه ده. دَ اولسي ادبي جرګې دَ لیکونکیو سره سره بهرنیو پښتو لیکونکیو هم دې ژانر ته مکه کړه اؤ ښه ښه رپورتاژونه کښې دَ پښتو ژبې اؤ ادب په جولۍ کښې واچول چې دلته ترې دَ یو څو نامې دَ تبرك په توګه لیکم. البته دا وېنا به بې ځایه نه وي چې ولیکم دَ 30-1929ء خواؤ شا لیکلی "دَ قیصه خوانۍ ګپ" اؤ خصوصاً "هغه دغه" دَ منشي احمد جان ساده نثر کښې دَ 1857ء دَ "غدر" دَ هند دَ ازادۍ بیان دَ هند په مختلفو ځایونو کښې دَ جنګ حالات اؤ واقعات بیانؤل یا خپلو زرینو لفظونو کښې دَ هغې ښکلې نقشه جوړؤل هم دَ رپورتاژ په لور اولني ګامونه دي. بیا دَ قیصه دَ خونړۍ واقعې تفصیلي رپورټونه راجمع کؤل اؤ کتابي صورت کښې چرته دَ رپورټنګ کؤلو دَ نامه نګار اؤ کله "بې نامو" چاپ کؤل هم دغه صورت حال رامخې ته کوي.

زما په خیال پښتو ژبه اؤ ادب کښې "دَ شلمې صدۍ تهذیب اؤ جېل خانې" دَ خان عبدالغفار باچا خان له ټولو زوړ اؤ پخوانی رپورتاژ دی چې (پښتون) اول دَور کښې قسط وار چاپ شوی دی.

(دَ دې برعکس حبیب الله رفیع دَ "زېري" کالنۍ ګڼه 1360 هـ ش 319 مخ کښې دَ افغانستان دَ عبدالهادي داوي تصنیف "ګل خانه" کښې دَ رپورتاژونو وړومبۍ نمونې ګڼي اؤ لیکي چې: "دا سفري رپورتاژ دَ شلمې پېړۍ دَ درېمې لسیزې له لومړیو کلونو سره اړه لري اؤ په دې توګه دا دَ پښتو لومړنی رپورتاژ ګڼلی شه ." (دَ پروفېسر داور خان داود دَ مقالې په اساس 268 مخ) خو متأسفانه رفیع صاحب صحیح نښته نه ده لیکلې چې میاشت اؤ کال کوم یو وو؟

دلته دَ میاشتنۍ مجله "پښتون" اتمانزۍ مرکز عالیه سردریاب (اشنغر) نه ځینې چاپ شوي سیاسي، خبري، افسانوي، واقعیاتي اؤ دَ تأثراتي ادبي رپورتاژونو ځینې نامې چې تفصیل ئې دغه ګڼو کښې لوستونکي لوستی شي دَ تفصیل اجمال ئې دا دی:

- دَ ضلع پېښور وړومبنۍ پولېټیکل کانفرنس (نامه نګار) پښتون اتمانزی 21 مۍ 1938ء (16 تا 19 مخونه). دَ رپورتاژونو دا سلسله په مۍ 1938ء کښې په میاشتنۍ مجله "پښتون" اتمانزۍ کښې شروع شوې وه چې اولنۍ دوه پرچې خو نه لرم البته درېم ټوک ئې په یکم جولائي 1938ء کښې چاپ دی. (ښاغلي اسرار اتل خپله پي ایچ ډي مقاله کښې دا کلونه 29-1928ء لیکلي دي (کمپوز مسوده)) حالانکه په 1928ء کښې دَ "پښتون" رسالې اجراء شوې وه.
- ما په مشرق کښې څه ولیدل؟ رضا عاکف ترکي، یکم فروري 1939ء 17 مخ
- دَ فرنګیانو دَ تهذیب مظاهرې 11 اپرېل 1939ء، 10 مخ
- دَ بیکي نبي محاصره، لاله ګل محمد صاحب، 1939ء 11 مخ
- دَ قومي جرګې دوه فېصلې، 1939ء، 7 مخ
- نوې دنیا ، (ماسټر عبدالکریم خان صاحب) 1939ء، 6 مخ
- زمونږ ګرفتاري اؤ قېد ، غلام جان، 1939ء، 36 مخ
- دَ قربانۍ ګډوری، عبدالکریم خان صاحب، 11 جون 1939ء، 12 مخ
- پښتون کښې زما مضمونونه ولې نه وي؟ فخر افغان، 21 جون 1939ء، 5 مخ
- دَ شانِ هند سالنامه، (چ: چلوونکی) عبدالغفار خان، هم دغه ګڼه، 10 مخ
- ګډې وډې، په ثمارا کښې نښته، لېونی فلسفي (غني خان) دَ طنز و مزاح په شګفته انداز کښې دَ فکاهیه کالم نګارۍ رپورتاژي نمونه، هم دغه ګڼه، 15 مخ
- مست پښتون، میا محمد شاه صاحب خیال، 21 جون 1939ء، 25 مخ
- دَ قومي جماعتونو افسوسناك طرز عمل، فخر افغان، 11 جولائي 1939ء، 5 مخ
- پښتون مئین پښتانه ، هم دغه مأخذ ، 7 مخ
- متحده قومیت اؤ فخر افغان، خالده ادیبه خانم، هم دغه مأخذ (یاد دې وي چې دَ خانم صاحبې

دا رپورتاژي ليك په څو ټوكونو مشتمل ترجمه شوى دى)

- ✓ په پښتون كښې دَ خبرونو انتظام (چ: چلوونكى) 21 جولائي 1939ء، 9 مخ
- ✓ دَ هري پور دَ جېل يوه قيصه، (چ: چلوونكى) 11 اګست 1939ء، 25 مخ
- ✓ دَ بهرنو ملكونو حالات، دَ هندوستان خبرونه اؤ دَ سرحد خبرونه تر عنوانه واړه واړه خبرونه (رپورتونه) په خپلو لفظونو كښې وړاندې شوي دي اؤ دا قسمه رپورتونه دَ صحافتي رپورتونو په زمره كښې راځي. يكم ستمبر 1939ء، دَ 8 نه 13 مخونه
- ✓ زما خوب، زما بچي ما له راكړئ، عبدالاكبر خان اكبر، يكم ستمبر 1939ء، (اول ټوك) دَ پبلسټي افيسر سرحد نه ترجمه، 22 نومبر 1939ء
- ✓ دَ هندوستان اؤ سرحد خبرونه، سركاري خبرونه، يكم دسمبر 1939ء دَ 12 نه 18 مخونه (دې كښې دوېم خبر دَ باچا خان دَ مشر زوئى عبدالغني خان دَ واده دى چې په 29 نومبر 1939ء شوى دى)
- ✓ دَ هندوستان دَ قومي جرګې درې پنځوسم سالانه اجلاس (اول ټوك) يكم اپرېل 1940ء (دَ 10 نه 12 مخونه)
- ✓ دَ لاهور افسوسناكه واقعه (اول دَ اپرېل 1940ء دَ 13 نه 18 مخونه)
- ✓ "پښتون" (ننګ افغاني) غلام سرور خان دَ كلاچي، "پښتون" يكم نومبر 1945ء، 21 مخ
- ✓ "دَ مېجر جنرلشاه نواز خان په خپله مقدمه كښې بيان" هفته وار "پښتون" 9 مئ 1946ء
- ✓ "هېر به مې نه شې" (خان شېرين خدائي خدمتګار دَ شبقدر) "پښتون" 9 مئ 1946ء، (19 تا 21 مخونه)
- ✓ "يو څو خبرونه" (اداره) اول جون 1946ء، 4 مخ، دَ صحافتي رپورتونو نمونې
- ✓ "دَ صوبائي انتخاباتو نتيجې" (اداره) "پښتون" 14 اپرېل 1946ء، (9 تا 12 مخونه) دَ صحافتي رپورټ نمونه
- ✓ "اهم اعلان" (حكيم عبدالوهاب دَ بايزو خركي مردان) 9 جون 1946ء (22 – 23 مخونه)
- ✓ "يو څو خبرونه" اداره، 24 جون 1946ء (7 – 8 مخونه)
- ✓ "دَ كلكتې خونړى فساد" 24 اګست 1946ء (دَ 3 نه 5 مخونه)
- ✓ "دَ كنټرول نه استعفىٰ" (هم دغه ګڼه 5 مخ)
- ✓ "دَ شېخ محمد عبدالله دَ ګرفتارۍ په سلسله كښې دَ باچا خان كشمير ته تلل" (اداره) اول اكتوبر 1946ء (دا هم په صحافيانه ادب كښې دَ غوره رپورتاژ نمونه ده)
- ✓ "مسلم ليګ اؤ پاكستان" (دَ پاكستان اغاز، سر سيد پاكستان ارباب محمد اسلم خان شرر" 17 اكتوبر 1946ء (دَ غوره رپورتاژ نمونه ده)

- "کشمیر سوال نه پیدا کېږي" مزید چشم دید واقعات (دَ سترګو لیدلي کتلي حالاتو اؤ واقعاتو رپورتاژ غوره نمونه) عبدالاکبر خان اکبر "پښتون" 24 دسمبر 1946ء
- "دَ بهار خوني فسادات اؤ باچا خان" (اداره) اول قسط 17 جنوري 1947ء، دویم قسط 24 جنوري 1947ء (دَ صحافیانه رپورتاژ غوره نمونه ده)
- "زمونږ دَ ازاد سرحد دوره، فدا عبدالمالك دَ پړانګو، 24 جنوري 1947ء، (که په ژور نظر وکتی شي نو دا قسمه روداد نګاري اؤ رپورتاژ نګاري دَ خدائي خدمتګارۍ په سلسله کښې ښاغلیو فضل الرحیم ساقي په خپلو درېو کتابونو "ژوندون" (دَ چاپ کال نه لري)، "خدائي خدمتګار- دَ پښتنو دَ ازادۍ دَ تحریك یو مختصر تاریخ" (2012ء) باچا خان مرکز پېښور (چاپ)، اؤ "دَ صبر جنګ" 2014ء پښتونخوا مطالعاتي مرکز باچا خان پوهنتون چارسده (چاپ) کښې په ډېره احسنه طریقه ادبي پېرایه کښې په شاعرانه صداقت سره لیکلي دي خصوصاً "ژوندون" اؤ "خدائي خدمتګار" کښې دَ تیراه اؤ بنو وزیرستان دَ دورو حالات اؤ واقعات په ډېره ښه ادبي اؤ ساده ژبه کښې لیکلي شوي دي.
- دغه رنګ دَ مشر عبدالخالق خلیق صاحب "دَ ازادۍ جنګ" څه هم که دَ هغه دَ ژوند سره تړلي دَ سیاسي هلو ځلو حالات اؤ واقعات دي ولې دَ یو اهم قومي مقصد سره تعلق لري اؤ په ډېره ساده ادبي ژبه کښې دَ رپورتاژ شکل ئې خپل کړی دی. دا کتاب اول په میاشتنۍ مجله "غنچه" پېښور کښې قسط وار چاپ کېده ، بیا په اول ځل کتابي شکل کښې په مۍ 1961ء کښې چاپ شو اؤ په دویم ځل اګست 1972ء کښې چاپ شوی دی.
- بیخي هم دغه شان دَ خپل ژوند حالات اؤ واقعات دَ رشکۍ ضلع نوښار محترم ډاکټر وارث خان کاکا په خپل کتاب دَ ازادۍ تحریك (جون 1988ء) کښې بیان کړي دي چې دَ رپورتاژ غوره نمونې پکښې تر نظره کېږي.
- هم دغه رنګ دَ عبدالاکبر خان اکبر صاحب دَ برصغیر دَ ازادۍ په جنګ کښې دَ پښتنو برخه (زما دَ ژوند سره تړلي حالات) هم چاپ شوي دي چې دَ "انجمن اصلاح الافاغنه" اؤ "خدائي خدمتګار تحریك" نه پرته پکښې هم دَ نورو ډېرو تنظیمونو جوړؤلو خو ناکامه کېدلو حالات اؤ واقعات پکښې په شخصي توګه بیان شوي دي. دَ رپورټونو ابتدائي اطلاع ده خو دَ ډاکټر سهیل احمد (دَ عبدالولي خان پوهنتون دَ باچا خان چیئر مشر) دَ وینا مطابق په اصل مسوده (چې دوي سره محفوظ ده) اؤ چاپ کتاب کښې ډېر فرق دی اؤ ډېرې لاس وهنې پکښې شوي دي. (18 نومبر 2016ء پېښور پوهنتون کښې خبرې اترې)
- "سرې غنچې" (اول چاپ 1365 هـ ش / 1986ء کابل اؤ دویم چاپ پېښور جنوري 2014ء) دَ اجمل ختك (دَ پېښور سنټرل جېل نه دَ "ګل ختك" په نامه هاغه اوږد خط دی چې اول په رهبر کښې په

ټوکونو کښې اؤ وروستو هم په دغه نامه له افغانستانه په کتابي شکل کښې چاپ شه (زما کتاب "دَ وروستي سپرلي نرګس" (اجمل خټك) کښې ئې تفصیل موجود دی. دغه کتاب چې وړاندې نور الله اولس پال 1365 هـ ش کښې راغونډ اؤ چاپ کړې وه ، په دوېم ځل محمد صادق ژړك ترتیب کړی دی اؤ دَ پښتو ادبي غورځنګ شالکوټ (کوئټه) نه په جنوري 2014ء کښې دَ وړومبي ټوك په طور چاپ کړی دی خو دا ئې پرې چرته هم نه دي لیکلي چې دراصل دا رپورتاژ دی چې په جېل کښې پرې څه تېرېدل اؤ کوم حالات اؤ واقعات رادوڅارېدل هغه ئې دَ "ګل خټك" په نوم خط کښې خوندي کؤل ځکه چې ښاغلی صادق په دې نه وه پوهه اؤ نه دَ هغه نادان دوستان په دې رسېدل چې دا رپورتاژ دی بلکې دې کتاب کښې چې دَ "خوارۀ تراخه " په نوم دوه لیکونه راغلي دي هغه هم رپورتاژونه دي. دغه شان دَ نوښار ادبي جرګې په حق له لیکونه اؤ دَ خوشحال بابا په مزاد دَ مشاعرې روداد هم دَ رپورتاژ یو شکل دی اؤ دَ ماسټر کریم دَ جنازې دَ سترګو لیدلی کتلی حال"دَ کور نه تر ګوره" خو بیخي دَ رپورتاژ په بڼه لیکلی شوی دی. دا اول لکه چې مخکښې ئې هم ذکر شوی دی دَ رهبر په ماسټر کریم نمبر کښې چاپ شوی وه .

- ✓ "حمید بابا دَ ماشو خېلو دی که دَ ماشوګګر؟" دَ حمید بابا مومند په ځېلۍ اؤ مقبرې پسې ګرځېدل هم ډېر غوره رپورتاژ دی. دَ کومو "ادبي رېبرو" تذکره چې دا کتاب لرې دَ اجمل صاحب دَ خصوصي نثر لیك شان غوره نمونه ده خو نیمګړې ده چې ما دَ خپل دفتر یو ملازم ته کوم کار دَ پښتونخوا دَ مطالعاتي مرکز باچا خان پوهنتون دَ پاره سپارلی وه چې کمپوز ئې کړي هغه ئې په صادق ژړك نیمګړی پېرزو کړو چې لائې پوره کړی نه وه . ځه ښه ده چاپ خو شو که نیمګړی دی هم، اصل مسوده راسره پوره شکل کښې پرته ده چې دَ سمندر بابا نظم هم ورسره دی چرته خو به ئې چاپ کړم اؤ په یو بل کتاب به مې دَ "لټون اؤ سمون" نامه راشي.

دَ فرنګیانو دَ تهذیب مظاهرې دَ ګل محمد صاحب دَ نبي تحصیل صوابۍ نه، دَ دې رپورتاژ حېثیت بیانیه انداز لرې خو مینځ پکښې مکالمه (ډائېلاګ) ډرامائي انداز هم خپل کړی شوی دی. دَ "پښتون" چلوونکي عبدالغفار خان باچا خان فخر افغان پرې داسې نوټ لیکلی دی:

> "مونږ په پښتون کښې دَ جېل خانې دَ مضمونونو سلسله په دې غرض شروع کړې ده چې یو خو زمونږ قام ته دا خبره معلومه شي چې په جېل خانو کښې دَ سیاسي قېدیانو سره دَ حکومت دَ طرف نه څه قسم سلوك کېږي؟ ځکه چې دَ ډېرو خلقو دا خیال دی چې ګني مونږ سره به په جېل خانو کښې هغه شاهانه سلوك کېږي څنګه چې دَ دنیا دَ نورو قومونو دَ سیاسي قېدیانو سره کېدی شي اؤ بل دَ حکومت هغه ټول واقعات دنیا ته ښکاره کړو کوم چې دَ دغه تورو تنبو (تمبو) دننه دَ خدائې دَ مخلوق سره صرف په دې ګناه کېدی شي چې دوي دَ خپل قام اؤ ملك سره مینه لري

اؤ دَ هغوي دَ بهترۍ دَ پاره کوشش کوي خو نن مونږ دنيا ته دَ دې مهذب حکومت هغه سلوك هم څرګندؤل غواړو کوم چې په کال 1930ء اؤ 1932ء کښې دَ جېل خانو نه بهر دَ خدائي خدمتګارو سره شوی دی. دَ دغې سلسلې دا وړومبنی مضمون دی چې مونږ ئې شائع کوو. امېد دی چې نور خدائي خدمتګاران هم دَ خپلو خپلو ځايونو ربنتوني واقعات مونږ ته راولېږي چې دا سلسله جاري پاتې شي خو دا بيا عرض کوو چې واقعات ربنتيا وي، مبالغه پکښې نه وي. (۲۴)

دَ عبدالغفار خان فخر افغان په وېنا هر خدائي خدمتګار چې دَ قلم اؤ کتاب سره ئې علاقه اؤ تړون لرلو، لبېك وئيلو اؤ هم دغه وجه وه چې "پښتون" دَ پاره ډېر غېر معروفو اديبانو هم دَ خپل ژوند حالات اؤ واقعات (ځان پېښې) (Autobiography)دَ رپورټونو اؤ رپورتاژونو په صورت کښې وليکل اؤ باچا خان ښه په ازاد متې چاپ کړل. باچا خان دَ "ربنتياؤ" تقاضا کؤله اؤ "رپورتاژ" کښې که څه هم ټول ربنتيا وي خو ځينې وخت پکښې ليکونکی دَ قيصې خوند خوږؤلو په غرض دَ مبالغې نه هم کار اخلي اؤ وړه خبره اوږدوي.

دغه سلسله وړاندې شروع شوې وه لکه چې "دَ هري پور جېل خانه" (اول ټوك) 21 دسمبر 1938ء اؤ دوېم ټوك 11 جنوري 1939ء کښې چاپ شوي دي اؤ درېم ټول په 21 فروري 1939ء اؤ څلورم ټوك په 21 مارچ 1939ء اؤ وريسې (نور بيا) خو دغه "نور بيا" زما سره دَ پښتون په فائېلونو کښې نشته. دا دَ ښاغلي سيد عبدالله شاه صاحب دَ مازارې ليکل دي چې دَ پښتون پاڼو محفوظ کړي دي.

دغه رنګ که مونږ دَ باچا خان "دَ شلمې صدۍ تهذيب اؤ جېل خانې" لولو يا دَ هغوي له جېل خانو نه رالېږلي خپلو يارانو دوستانو، دَ تحريك مشرانو اؤ خپلو مئينانو ته لېږلي خطونه دي چې دَ مکتوب نګارۍ سره سره دَ رپورتاژ نګارۍ هم غوره نمونې لري. بيا دَ ماسټر کريم صاحب "تننۍ دنيا" کالم نګاري هم دَ جديد رپورتاژ نګارۍ غوره نمونې لري چې په ساده سوچه پښتو ژبه دَ متلونو، محاورو اؤ امروزه ژبې سره سم به دَ پښتون په شمارو کښې شائع کېدل. بيا دَ ځينو نورو ليکونکيو لکه دَ کپتان مستعان صاحب "دَ انګرېزي تهذيب مظاهرې" 21 مۍ 1939ء يا دَ جېل خانو په لړ کښې دَ فخرِ افغان دَ خصوصي نوټ سره دَ ګل محمد صاحب دَ نبي صوابۍ "دَ فرنګيانو دَ تهذيب مظاهرې" 11 اپرېل 1939ء "زمونږ ګرفتاري اؤ قېد" دَ غلام جان صاحب دَ قاسم کلي 11 جون 1939ء (دَ 36 نه 40 مخونه)

هم دا رنګ که دَ غم خبرونه دي که دَ ادب اؤ سياست، وطن، ملکي اؤ بېن الاقوامي خبرونه هم دَ ابتدائي اطلاعي رپورټونو سره سم دَ "رپورتاژ" کړه وړه اؤ سره هم لري لکه دَ سرحد خبرونه، دَ هندوستان خبرونه، دَ جرمني خبرونه، دَ اټلي خبرونه اؤ دا رنګ دَ ټولې نړۍ خبرونه دَ پښتون دَ مخ غازه ده چې څه خو نېغ په نېغه دَ خبرونو تر عنوانه صحافتي انداز کښې راغلي دي اؤ ځينې حالات

اؤ واقعات بیا یا خو دَ "تننۍ دنیا" دَ سرلیك لاندې دَ ماسټر عبدالکریم دَ ساده اسان اؤ دَ امروزه محاوره اؤ متلونو شعرونو سره سم خوندور نثر کښې دَ هغوي دَ خپلو مشاهداتو سره لیکلي شوي دي یا ئې دَ پښتون مجلې دَ نورو لیکونکیو لکه دَ ممتاز علي خان صاحب دَ بنو یا دَ ارباب محمد اسلم خان شرر دَ امباډېر دَ "بخري" تر عنوانه په ازاد متې لیکلی شوی اؤ لکه دَ "لېوني فلسفي" (غني خان) دَ "ګډې وډې" دَ طنز و مزاح سره اؤ کړه وړه هم لري.

بیخي هم دغه رنګ چې "پښتون" کښې باچا خدان دَ جېل نه رالېږلو کومو خطونو دَ چاپ کؤلو اراده کوي نو سر کښې ئې نوټونه لیکي:

دَ "پښتون" مجلې داسې ډېر لیکونه چې دَ رپورتاژ رنګونه لري. دَ تفصیل اؤ اجمال نه ئې ژغورنه وشوه خو هر کله چې دَ "پښتون" بیا اجراء وشوه اؤ محترم ولي خان ئې مسئول مدیر اؤ میر مهدي شاه مهدي باچا پکښې مدیر وه ، ورسره اجمل خټك محمد لطیف وهمي، پروفېسر جهانزېب نیاز اؤ مرتضیٰ خان شاهین مرستیال شامل وو نو دغه ګڼو کښې دَ مهدي باچا "دَ غټو مجرمانو ډائري" چې دَ "یو قېدي" په نامه به ئې لیکله چې دَ تفصیل لږ غوندې اجمال ئې دا دی: اول قسط اووه ورځنی "پښتون" جلد 1، شمېره 1، 1 اکتوبر نه 8 اکتوبر 1989ء. دوېم قسط 9 اکتوبر نه 16 اکتوبر 1989ء پورې، 11 – 12 مخونه، درېم قسط دَ 17 اکتوبر نه 24 اکتوبر 1989ء پورې، 15 – 16 مخونه، څلورم قسط دَ 25 اکتوبر نه 31 اکتوبر 1989ء پورې، 17 – 18 مخونه، پینځم قسط دَ یکم نومبر نه 8 نومبر 1989ء پورې، 9 – 10 مخونه، شپږم قسط 9 نومبر نه 16 نومبر 1989ء پورې، 9 اؤ 11 مخونه

"زه اؤ پښتون" دَ عبدالغفار خان باچا خان "زما ژوند دَ جدوجهد نه اخذ شوی" اداریه "مشال" مشموله "پښتون" پېښور 1 اکتوبر نه 8 اکتوبر 1989ء. یاد دې وي چې دې اداریې پسې دَ "شذرې" په حېث "پښتون" رساله دَ تاریخ په رڼا کښې دَ "اداري" له خوا لیکلې شوې ده اؤ په هغې کښې دَ پښتون دَ 1928ء نه تر 1947ء پورې درې ځله اجراء اؤ بندېز لیکلی دی اؤ بیا دَ باچا خان اؤ ولي خان په ډېرو کوششونو په اکتوبر 1989ء کښې په څلورم ځل جاري شوې ده. (4 مخ) حال دا دی چې اوس کومَ "پښتون" مجله دَ باچا خان مرکز پېښور نه دَ رحمت شاه سائل په ادارت کښې شروع شوې ده په هغې کښې څلورم دور لیکلي دي چې سم نه دي.

"هري پور جېل اؤ سیاسي قېدیان" یو خدائي خدمتګار (شاید دا هم دَ مهدي شاه باچا لیك وي) 9 اکتوبر نه 16 اکتوبر 1989ء پورې، (14 مخ)

"دَ بابا دَ څنګ ملګري" دیار خان خاموش (اوسنی روښان یوسفزی) پښتون، 25 اکتوبر نه 31 اکتوبر 1989ء پورې، (دَ 30 نه 32 مخونه)

"چپاوونه" عبدالغفار خان (نامه ورسره نه ده لیکلې شوې خو دَ مدیر په یادګیرنه کښې ئې تذکره

شوې ده) يکم نومبر نه 8 نومبر 1989ء (3 تا 5 مخونه)
"هېر به مې نه شي" فضل رحيم ساقي، هم دغه مأخذ (18 مخ)
"چې ئې هر قدم..." سقراط (دا دغه دور کښې دَ محمد لطيف وهمي فرضي نامه وه اؤ افسانې به ئې دَ "رېحان" په فرضي نامه ليکلې) هم دغه مأخذ (19 – 20 مخونه) دا دې هم ياد وي چې هم دې شماره کښې رفعت شاهين دَ "تننۍ دنيا" (چې دَ باچا خان په وخت کښې به ماسټر عبدالکريم ليکله. دَ دوي ځينې ليکونه دَ (ع . ك) په نوم هم چاپ شوي دي) تر عنوانه عالمي خبرونه لکه "افغانستان، اريټيريا، سوډان، ليبيا اؤ مراکش"باره کښې دَ صحافيانه رپورټونو په صورت کښې ليکلي دي. (دَ 15 نه 16 مخونه) ورپسې شماره کښې 9 نومبر 1989ء دَ 5 نه 7 مخونو پورې تننۍ دنيا کښې دَ سعودي عرب، ناپېئيلې هېوادونه، چين اؤ نمېبيا متعلق تفصيلي خبرې رپورټونه درج دي.
"کور وداني اؤ ادبي محفل" مفلس دراني (دا دَ شبقدر دَ رحمت شېر رحمت دَ وروڼو دَ ودونو دَ مشاعرې رپورتاژ دی) هم دغه مأخذ (29 تا 31 مخونه)
"دَ سپو په اروا" ليك (خط) پلوشين باچا (دَ لندن نه) پېشکش: م . ر . شفق 17 نومبر 1989ء (29 نه 32 مخونه) دې خط کښې دَ لندن دَ ژوند ژواك اؤ نورو قباحتونو اؤ صفتونو دا ليك په رپورتاژ بدل کړی دی.
دَ دې ټولو رپورتاژونو دَ پښتون دَ مهدي شاه باچا دَ دور ګڼې ګواه دي. اوس هم دَ پښتونخوا په ګڼو رسالو اؤ اخبارونو کښې دَ رپورتاژ په نوم ليکونه چاپ کېږي خو دَ دې ليك سينه دومره لويه نه ده چې خپل ځان کښې راځائې کړي ځکه ترې صرف نظر وکړی شه خو کوم رپورتاژونه چې ډېرو زياتو مشهورو اؤ نامتو ليکونکيو ليکلي اؤ کتابي شکل کښې چاپ شوي دي يا دَ مجلو زينت ګرځېدلي دي په هغې کښې دا يو څو نومونه ډېر زيات مشهور اؤ دَ يادؤلو وړ دي:

- ✓ "دا زه پاګل وم" دَ اجمل خټك دَ زندان حالات اؤ واقعات دي. (1958ء)
- ✓ دَ ماسټر عبدالکريم جنازه، دَ اجمل خټك مشموله، رهبر پښور ماسټر کريم نمبر، هم په دغه عنوان دَ فضل الرحيم ساقي صاحب رپورتاژ
- ✓ دَ بالغانو تعليم يو انقلابي تحريك پکار دی نقيب الله خان شبنم دَ هنګو "پښتون" اتمانزی يکم ستمبر 1939ء (26 تا 29 مخونه)
- ✓ دَ لاهور افساناکه واقعه (اداره) مياشتنی "پښتون" (اتمانزی) اول دَ اپرېل 1940ء (دَ 13 نه 17 مخونه)
- ✓ دَ هندوستان دَ قومي جرګې درې پنځوسم سالانه اجلاس (اداره) اول دَ اپرېل 1940ء (اولنی ټوك) (10 تا 12 مخونه)
- ✓ تأثرات (27 اکتوبر) محمد نواز خاك خټك، پښتون، يکم نومبر 1945ء (12 تا 13 مخونه)

- "دوه ملکونه یوه قیصی" دَ ابراهیم جلیس دَ اردو رپورتاژ ترجمه دَ قلندر مومند
- لوئې پښتون باچا خان سره په دوره، ماسټر عبدالکریم (دَ ګل امام نه) اووه ورځنی "رهبر" پېښور، 15 اکتوبر 1957ء
- "دردیال" نالیدلی سوات دَ محمد نواز طائر (1965ء) (تانه ملاکنډ ایجنسي)
- "تر اصحاب بابا" دَ مهدي شاه مهدي باچا (کنکوله/ واحد ګړی پېښور)
- "چوروړی" دَ ماسټر عبدالکریم اُتمانزی (دَ ولي خان سره دَ مدین دَ تګ راتګ اؤ هلته دَ حالاتو واقعاتو بیان دی چې په "رهبر" پېښور کښې چاپ شوی دی.)
- "دَ امب سفر" دَ نصر الله نصر (1946ء) (بر تاکال پېښور)
- "دَ چوړ سفر" دَ امیر حمزه خان شینواري (لواړګی)
- "دَ چکدرې نه تر درې" دَ کاکاجي صنوبر حسېن مومند (میاشتنی اسلم پېښور)
- "ګور غریبان" کاکاجي صنوبر حسېن مومند، (دا دَ حافظ عبدالستار دَ اله ډنډ ډېرۍ اؤ دَ محمد اسلم خان شهید دَ عیدګاه بایزید خېل په شهادت لیکلی رپورتاژ دی چې اول په "اسلم" پېښور کښې قسط وار اؤ وروستو دَ یو وړوکي کتابګي په صورت کښې چاپ شوی اوس نایاب دی)
- "تهتره" دَ دوست محمد خان کامل مومند (سکندرپوره پېښور)
- "قېد و بند" دَ همېش خلیل (بر تاکال پېښور)
- "دَ کوهاټ نه لورالائي پورې" دَ ایوب صابر (کوهاټ)
- "ملکا" دَ حسن خان سوز (رهبر پېښور)
- "دَ تیراه سفر" دَ لطیف وهمي اورکزئ (پېښور)
- "ما په ګناهګارو سترګو دا هر څه لیدلي دي" دَ رشید علي دهقان (وزیرستان)
- "دَ پېښور نه تخت بهائي پورې" دَ لطیف وهمي اورکزئ
- "دَ زاخېلو په لور" دَ لطیف وهمي اورکزئ
- "دَ رښتین خبرې" دَ م – ر - شفق (مشتاق الرحمان شفق طورو مردان)
- "کتلی خوب" دَ جعفر خان اچکزي (کوئټه)
- دَ باچا خان په یاد کښې ماتمي دستوره، اقبال حسېن افکار (دَ مارګلې په لمن کښې دَ پښتو ادبي سوسائټۍ اسلام اباد)، اووه ورځنی "قیادت" پېښور، جلد نمبر 29 شمار نمبر 56-57، 9 فروري تا 24 فروري 1987ء
- "دَ ماسټر عبدالکریم ورځ، نثر له دَ ودې ورځ" خلیل فرهاد، هم دغه مأخذ
- "دَ باګرام نه تر بولانه" دَ شمس الدین (مفلس دراني) رځړ چارسده (1992ء)
- "له مردانه تر مردانه" دَ محمد زبېر حسرت (1992ء) مردان

- ”دَ حق چغه“ بدر الحکیم حکمیزی، بره درشخېله (سوات)
(دَ تحریك نفاذ شریعت محمدي ﷺ دَ مجاهدینو اؤ فوځ تر مینځه په 1995ء کښې دَ شوې جګړې محرکات، واقعات اؤ اثرات په ادبي رنګ کښې پېښ شوي دي (چې افسانوي رپورتاژ ئې بللی شو) دَ ځان له پمفلټ په صورت کښې په اته مخونو چاپ دی، دَ چاپ تاریخ نه لري.)
- پیچ بېله، مهر اندېش، درې میاشتنی ”ګلبڼ“ مردان (څلورمه ګڼه) دسمبر 1998ء
- ”جانان مې قطر ته روان دی“ دَ طاهر اپریدي (کراچۍ) 2004ء
- ”لاړ شه پېښور ته“ دَ طاهر اپریدي (کراچۍ)
- ”ځه چې ځو کابل ته“ دَ طاهر اپریدي (کراچۍ)
- ”دیدن ته دې ناوخته راغلو“ دَ محمود ایاز (لورالائي بوري) کوئټه
- ”دَ سپین بولدك په لور“ دَ حنیف خلیل (سپینه وړې پېښور)
- ”جنازې“ دَ سید صابر شاه صابر (غریب اباد بر تاکال) ”دَ شاعرانو ادیبانو دَ جنازو رپورتاژونه“ (یاد دې وي چې صابر شاه اولنی لیکونکی نه دی چې دَ جنازو حال احوال ئې دَ خپلو مشاهداتو سره لیکلی دی، له ده وړاندې لکه چې وړاندې مو ولوستل ”اجمل خټك صاحب“ اؤ فضل الرحیم ساقي صاحب دَ ماسټر عبدالکریم دَ جنازې دَ سترګو لیدلی کتلی حال بیان کړی دی.)
- ”ښکلی دی وطن زما“ دَ سید صابر شاه صابر (غریب اباد بر تاکال) (دَ رپورتاژونو مجموعه)
- ”له بارې تر باړه ګلۍ“ دَ سلیم راز (سوکړ اشنغر)
- ”فېضي په مردان کښې“ دَ پیر ګوهر، مشموله ”ګوهریات“ تالیف: افتاب ګل بڼ مردان 2009ء
- ”ننداره“ (دې کښې دوه رپورتاژونه ”اوږد چکر“ (دَ سوات) اؤ ”ننداره“ (دَ هزارې) شامل دي) دَ محمد زبېر حسرت (مردان 2010ء)
- ”بډ نمبر 28“ دَ ریاض تسنیم (کراچۍ)
- ”ګلګشت“ دَ ماښام خټك (کراچۍ)
- ”دَ ډیلي تخت هېرومه“ دَ امان اپریدي (کراچۍ)
- ”دَ کابل سفر“ دَ اسرار الرحمان اسرار دَ طورو (کراچۍ)
- ”دَ وطن په ګلدرو کښې“ دَ فېروز اپریدي
- ”دَ یار دَ کلي دَ کوڅې مازیګر“ دَ ګوهر نوید (مردان)
- ”بخشالي وې جلال اباد ته به ځو“ دَ م – ر - شفق (مشتاق الرحمان شفق دَ طورو مردان)
- ”له کوتله تر کابله“ دَ فېروز خان صادق (کوهاټ)
- ”قافله چې دَ غمژنو وه روانه“ هفت روزه هېواد پېښور، دَ محمد زبېر حسرت (مردان)
- ”باچا خان پوهنتون اؤ غني خان کتابتون“ دَ ډاکټر محمد زبېر حسرت (مردان) مشموله ”مست

ملنګ غني خان" (2014ء)
- ✓ "له پېښوره تر سپین غره" دَ ډاکټر شېر زمان سیماب (تاېه)
- ✓ "پښتانه بیا پښتانه دي" دَ طاهر بونېري (بونېر)
- ✓ "توتکي یاترا –له اشنغره تر سپین غره" دَ حیات روغاني (2016ء) (دَ وردګې اشنغر)

"دَ باچا خان پوهنتون المیه" (20 جنوري 2016ء) مشموله: درېٖ میاشتنۍ تاتره، پېښور، دَ A.P.S اؤ B.K.U.C په غمژنو اؤ وینو لړلیو داستانونو خصوصي نمبر

له دغه پورتنیو رپورتاژونو علاوه چې ماته د خپل تحقیق په دوران کښې نور کم رپورتاژونه تر لاسه شوي دي دَ هغې د تفصیل اجمال دا دی.

- ✓ "دَ بټګرام ادبي سفر" دَ میا سهیل انتشار (روزنامه وحدت پېښور)
- ✓ "دَ کوئټې ادبي هلې ځلې" د حنیف خلیل (هم دغه مأخذ)
- ✓ "ماته غوړ شه" د نورالبشر نوید دَ ادبي کالمونو اولنۍ مجموعه ده. دې کښې چې کوم کالمونه د رپورتاژ کړه وړه لري د هغه عنوانونه دا دي. "سریندرکور"، "بچې ستا کابل څنګه وه ؟" "د کابل کونتره والوته" "وقاره! افغانستان چېرته دی؟" (وحدت پرنټنګ پرېس پېښور 1994ء)
- ✓ "دَ درال بانډې" دَ ضیاء الدین یوسفری، میاشتنۍ مجله "مینه" سوات، اکتوبر-نومبر 2003ء
- ✓ 'دَ خدائي خدمتګارۍ سفر" دَ صابر شاه صابر
- ✓ "دوه لوې سفرونه" دَ صابر شاه صابر
- ✓ "جانانه! راشه په تیراه کښې رنګینۍ شوې" دَ صابر شاه صابر
- ✓ "دَ سپین جومات ته تر سپین جوماته پورې" دَ صابر شاه صابر (دغه دواړه رپورتاژونه په "دستار" انټرنېشنل مجه پېښور کښې قسط وار چاپ شوي دي)
- ✓ "د قصه خوانۍ د خونړۍ پېښې رپورټ (دوېم چاپ) ژباړه، سریزه او لمنې دَ عبدالشکور رشاد، مومند خپرندویه ټولنه پېښور، 1390هـ ش/ 2011ء (یاد دې وي چې دا دَ رپورتاژونو نه یوې ډډې ته د قیصه خوانۍ دَ خونړۍ پېښې په حالاتو او واقعاتو دَ حکومتي بیانونو او اولسي خبرو اترو رپورټونو ابتدائي اطلاعي شکل دی چې په کتابي صورت کښې چاپ شوی دی او دَ ډاکټر خان صاحب نامه پکښې محترم رشاد صاحب "عبدالجبار خان" په 17 مخ حاشیه نمبر1 کښې لیکلې ده چې سمه نه ده ځکه چې د هغوي خپله نامه خان صېب (صاحب) وه او دَ ډاکټرۍ کولو په وجه ورته د "ډاکټر خان صېب" نامه اخستې شوه).
- ✓ "دَ تاریخ پاڼه" (د قصه خوانۍ د خونړۍ پېښې واقعات او حالات دي چې په 1930ء کښې یو نامعلوم لیکونکې لیکلي دي او هم په دغه کال د لاهور په سټیم پرېس کښې په وړه کچه 20x30=16 کښې چاپ شوی او پېرنګیانو هم په دغه کال ضبط کړی او په برېټش میوزېم

لائبريري لندن کښې ئې خوندې کړې وه چې په کال 2011ء کښې ډاکټر خالد خان خټک پښتونخوا ته راؤړه اؤ ما د ښاغلي پروفېسر ډاکټر فضل رحيم مروت په وساطت د پښتو اکېډمۍ کوئټې جنوبي پښتونخوا په مجله "ليکنې" کښې چاپ کړې ده۔

- "دَ تانده ډېم په غاړه" د فېروز خان صادق دستار انټرنېشنل پېښور اکتوبر-نومبر 2013ء
- "دَ کامل ورځ" د قمرالزمان قمر مشموله "ظهورونه" د کاکاجي ظهور ازاد قريشي، وحدت پرنټرز پېښور اپرېل 2000ء (ياد دې وي چې هم دغه ادبي رپورټ په روزنامه مشرق پېښور 1992ء کښې دَ "يومِ کامل" تر عنوانه دَ شاه جهان صابر په نامه چاپ شوی چې وروستو ئې خپله ترجمه هم کړې ده او دَ "يوم کامل" په نامه ئې دَ کاکاجي په ظهورونه کښې هم شامل کړی دی۔
- "دَ سوات په لور" دَ قاري ډاکټر محمد اسلام ګوهر مشموله، "تحقيقي کرښې" پېښور عامر پرنټرز اينډ پبلشر مۍ 2014ء
- "ستونزې او اُميدونه" (دَ قبائيلي سيموسفر) چې دَ سفري رپورتاژ غوره نمونه ده. "پښتون رابطه" اسلام اباد، اپرېل 2014ء
- "دَ وفا مينې او ښکلا په لور" دَ اقبال حسين افکار دی چې دَ ګڼو ليکونو مجموعه ده، رپورټونه، رودادونه او رپورتاژونه هم لری. دَ کلچر ډيپارټمنټ پېښور صوبه خيبر پښتونخوا له خوا په 2016ء کښې چاپ دی۔

تر دې وخته غوره اؤ ښائسته رپورتاژونه دي. دوي کښې به اکثرو رپورتاژونو "سفرنامې" ليکلې شويدي خو دا سفرنامې نه دي اګر چې دَ سفر نامو رنګ روغن هم پکښې شامل دی. دراصل رپورتاژ اؤ سفرنامه دَ يوه صنف دوه نامې دي. په دې چې دواړه يو بل ته ډېر نژدې دي خو فرق پکښې په تکنيکي لحاظ صرف دومره دی چې سفرنامه کښې ليکونکی دَ مختلفو مقاماتو نه تېرېږي اؤ چې څه هم ويني نو خپل ليك کښې ئې راولي. تاريخ، جغرافيه، ثقافت (دود دستور، کلتور، رسمونه، رواجونه) شخصيات، ملاقاتونه، خبرې اترې، رنګونه اؤ خوندونه هر څه پوره جُزيات نګارۍ سره بيانوي، خو دَ رپورتاژ ليکونکي سترګې چې دَ اولس دَ مخونو په ځائې په زړونو کښې څه ويني ګوري اؤ خپل زړه کښې ئې څنګه محسوسوي هغه اولس ته دَ يو تأثر په شکل کښې وړاندې کوي.

پروفېسر داور خان داود دَ سفرنامې اؤ رپورتاژ دَ يك رنګۍ اؤ مماثلت اؤ پښتو ته دَ راتګ خپل کتاب "څېړنه اؤ کره کتنه" کښې ليکلي دي چې:

> "دَ ګڼو نثري اصنافو په شان سفرنامه (travelogue) اؤ رپورتاژ (reportage) هم مونږ دَ يورپي اؤ خاص کر دَ انګرېزي ادب نه اخستي دي. دې اصنافو ته دَ ټولو نه وړومبی فرانسيسانو توجه ورکړې وه. اوس دا دَ ټول عالمي ادب يوه برخه ګرځېدلې ده. دا حقيقت دی چې سفرنامه اؤ رپورتاژ يو بل سره ډېر نژدې تعلق لري ځينې

خصوصیات ئې مشترك هم دي ځکه ئې یو ځائې ذکر کؤلی شي".(۲۵)

لکه چې دَ دواړو صنفونو دَ نامو نه هم څرګنده ده. په سفرنامه کښې دَ سفرنامه نګار دَ پاره سفر شرط دی خو دَ رپورتاژ لیکونکي دَ پاره دغه شرط نشته ځکه چې رپورتاژ په ځائې دَ شوې یوې واقعې سره تعلق لري. دې سلسله کښې نوموړی وړاندې لیکي چې:

"رپورتاژ که هر څو سفرنامې سره ورته والی لري خو که وکتی شي نو دا دَ دې نه یو بیخي بیل صنف دی، سفرنامه ښېښې شوې ښېښې خوندي کوي خو په رپورتاژ کښې لیدلي کتلي حالات اؤ واقعات بیانولی شي دَ رپورتاژ اؤ سفرنامې دَ لیکلو طرز بیل بیل دی". (۲۶)

زما تر فهمه دَ رپورتاژ دوه قسمونه دي یو هاغه رپورټونه چې صحافیان ئې دَ اخبار په مېز (ډسك) جوړوي اؤ دَ اخبار خېټه پرې ډکوي اؤ بل هاغه رپورټونه چې وروستو دَ ادبي، علمي اؤ فکاهیه رپورتاژونو شکل واخلي چې رپورتاژ نګار پکښې دَ واقعیت اؤ خارجیت سره سره دَ خپل داخلیت سره هم شامل کړي ځکه چې دَ لیکونکي خپل خیال، سوچ اؤ یو نقطه نظر وي اؤ تر څو چې ئې خپل لیك په دغو توکو ښائسته کړی نه وي نو هغه به ښه اؤ غوره رپورتاژ ونه لیکلی شي. ښاغلی سحر یوسفزی "ادب څه دی؟" دوېم چاپ 1980ء کښې لیکي چې:

"رپورتاژ یو ډېر نازك ادبي صنف دی په دې کښې دَ افسانې خوند، دَ سفرنامې علم، دَ انشایې تخیّل اؤ دَ خیالاتو لنډې اوږدې چپې وي".(۲۷)

سفرنامه لکه دَ ناول اوږده اؤ رپورتاژ لکه دَ افسانې مختصر وي. په نورو لفظونو کښې به داسې ووایو چې دَ سفرنامې جولۍ خوره وره ارته بیرته پراخه اؤ وسیع وي اؤ دَ رپورتاژ چوکاټ دَ دغې برعکس ډېر وړوکی اؤ لنډ تنګ وي خو بیا هم یو ښه اؤ غوره لیکونکی پکښې خپل مخصوص اسلوب کښې په مختصره پېرایه کښې ډېر څه ځائېؤلی شي دا چې دَ پښتونخوا په سیمه ځینو ختیځ پوهانو خبریالانو اؤ انتظامي افسرانو رپورتاژونه لیکلي دي. په دغو لیکونکیو کښې سر ونسټن چرچل (Sir Winston Churchill)اؤ کپتان راورټي (Captain Raverty) وتلې نامې دي. دَ چرچل لیك "ملاکنډ فیلډ فورس" اؤ دَ "راورټي سوات 1857ء" چې شهباز محمد پښتو ته را اړولي دي. دغه رنګ Life among the Pathans (Khattaks) Buster goowing 1927 اول چاپ اؤ 1975ء دوېم چاپ راولپنډۍ چې ترجمه ئې دَ ژوند دَ پښتنو خټکو تر مینځه محمد سعید خادم خټك نومبر 2016ء کښې چاپ کړې ده. بلکې زمونږ زړو اؤ زلمیو لیکونکیو خو دا صنف دومره ښه کړی دی چې دَ یو مختصر غوندې غزل په رنګ ئې خپلو رپورتاژونو کښې هم ګڼې تجربې کړې دي اؤ دَ زړو روایتونو بدلولو هڅه کښې ئې زاړه چوکاټونه مات کړي دي اؤ هاغه هر څه ئې پکښې بیان کړي دي چې یوه زمانه کښې دَ نه بیانولو وو. دې سلسله کښې اول زه دَ خودستایۍ اؤ خود نمایۍ یا نګرسیت له

رويه خپل رپورتاژ "له مردانه تر مردانه" اؤ بيا دَ ښاغليو محمود اياز، "ديدن ته دې ناوخته راغلو" دَ طاهر اپريدي "جانان مې قطر ته روان دی" اؤ دَ زلميو سره ځوان اؤ دَ زړو سره زوړ ښاغلي سليم راز "له بارې تر باړه ګلی" غوره رپورتاژونه په دليل اؤ ثبوت کښې دَ سند په طور پېش کؤلی شم. دَ دې وېنا سره چې زمونږ دا موجوده رپورتاژونه هاغه ټول رپورتاژي خاصيتونه لري اؤ که نه دَ کومو چې رپورتاژ ليکونکيو اؤ په رپورتاژ دَ ليکونکيو محققينو اؤ ناقدينو په مقالو اؤ تنقيدي مضامينو اؤ مقالو کښې ذکر راغلی دی اؤ هغوي دَ دې توکو تاکيد دَ رپورتاژ نګارۍ دَ غوره والي دَ پاره کوي.
دغه رنګ دَ ښاغلي شمس بونېري (وکيل) "دَ زندان رڼا" (نومبر 2012ء) اؤ دَ سهېل فدا "دَ دربهٔ ژوند په لټون" (دَ يو بې ګناه قېدي دَ ژوند حالات 2013ء) هم دَ ښو رپورتاژونو نمونې دي چې په کتابي شکل کښې چاپ شوي دي
زما دې مجموعه "رپورتاژونه" کښې دَ دې يوې مقدمې نه پرته دَ ښاغلي ګل محمد بې تاب صاحب دَ رپورتاژونو رپورتاژ نومې ليکنه اؤ زما "نولس" ليکونه چې زه ورته رپورتاژونه وايم، شامل دي. شايد زما لوستونکي زما دې رائې سره متفق نه شي خو دا زما خيال دی اؤ ما له خپله خياله څوک هم نه شي منع کؤلی چونکې دې مجموعه کښې ځينې خطونه هم دَ رپورتاژ په زمره کښې ما شامل کړي دي اؤ په دې دليل چې:

> "خبری مکتوب سو فی صد رپورتاژ نہیں لیکن رپورتاژ ایسی رپورٹ کو کہتے ہیں جس میں لکھنے والے کے محسوسات اور تأثرات بھی شامل ہوں۔ یہ ایک ادبی صنف بھی ہے۔ سفرنامے عموماً رپورتاژ کی ذیل میں آتے ہیں۔ فرق یہ ہے کہ مکتوب ایک ایسا رپورتاژ ہوتا ہے جس میں لکھنے والا اپنے محسوسات اور تأثرات شامل کر سکتا ہے، لیکن صحافی معروضیت سے زیادہ دور نہیں جاتا۔ پھر اس کے محسوسات اور تأثرات اخبار کی پالیسی سے ہم آہنگ ہوتے ہیں۔ مثلاً اگر ایک اخبار اسی سیاسی جماعت کا ہے تو اس کے نامہ نگار اپنے مکتوبات میں مخالف جماعتوں کی سرگرمیوں کو تنقیدی نقطہ نظر سے بیان کریں گے، تعریفی انداز میں نہیں۔ ایک خاص رپورتاژ لکھنے والے پر کوئی پابندی نہیں ہوتی"۔(۲۸)

دا رپورتاژونه دي که رودادونه دي يا دَ تکل انداز اؤ کړه وړه لري يا چې دَ خط په شکل کښې ليکلي شوي دي اؤ که دَ يوې دستورې دَ سترګو ليدلي کتلي حال مې په خپله شاعرانه پېرايه کښې پوره ادبي صداقت سره دَ خپل ما في الضمير څرګندؤلو سره سم بيان کړی دی اؤ نوم مې ورله هډو "رپورتاژونه" اېښی دی اؤ وخت په وخت مې دَ زړه غبار اېستی دی اؤ دا رنګ مې دَ واقعاتو اؤ حالاتو په ترخو کښې دَ خپل فکر و نظر اؤ تخيّل خواږه ګډ کړي دي اؤ تاسو ته ئې دَ يوې مجموعې په شکل کښې دَ وړاندې کؤلو هڅه کوم. زه خپل عمل اؤ کار و زيار کښې تر کومه حده کامياب يم. دَ دې اندازه به مې درانه لوستونکي لګوي ځکه چې دا رپورتاژونه که ډېر زاړه نه دي ولې دومره نوي هم

نه دي چې زه دې پکښې دَ خېبر پښتونخوا دَ اوسنيو حالاتو اؤ واقعاتو په تناظر کښې دَ مردان ښار په مينځ کښې دَ سټي پوليس تانې ته مخامخ کچهرۍ باندې دَ ترهه ګرو اؤ رخنه ګرو دَ بمونو ګوزارولو اؤ دَ ډزو کؤلو اؤ په نتيجه کښې ئې دَ ديارلسو شهيدانو اؤ دَ شپېتو نه زياتو ژوبلو کسانو وينې وينې، سلګۍ سلګۍ اؤ اَهونه اَهونه ننني (6 ستمبر 2016ء) احوال بيان کړم چې څومره کورنۍ تباه شوې. دَ چا پلار، دَ چا ورور، دَ چا خاوند اؤ دَ چا دَ سترګو تور پکښې شهيد اؤ ژوبل شو. څومره ښځې کونډې شوې؟ څومره پېغلې دَ خپلو ارمانونو سر ته ودرېدې؟ څومره جونه ورارې شوې اؤ څومره مېندې بُورې شوې؟ خو مردان دې تل ودان وي اؤ دَ مردان په اولس دې شاباش اؤ اَفرين وي چې په داسې ناوړه حالاتو کښې هم خپل وروڼه، عزيزان اؤ ياران دوستان يواځې نه پرېږدي اؤ دَ هر قسمه لاس امداد ورسره کوي. په ژوند ، ځان اؤ مال ئې برکت شه چې هر وخت له يوه بله قربان وي.

زه په دې خبره کښې هېڅ باك نه محسوسوم چې ووايم په اُردو ژبه کښې به په ډېر رپورتاژونه ليکلي شوي وي اؤ په انګرېزۍ ژبه کښې به که دَ اُردو ژبې نه زيات نه وي نو ډېر کم به ترې هم نه وي ليکلي شوي. دغه شان پښتو ژبه هم دَ هېڅ يوې ژبې نه په هېڅ قيمت کمه نه ده چې په دې کښې هم که دغه مذکوره رسالې وکتی شي نو معلومه به شي چې زښتو ډېرو ليکونکيو به رپورتاژونه ليکلي وي چې دَ ځينو مثال مونږه په دې مقدمه کښې پورته ورکړی دی اؤ ډېر به رانه پاتې شوي وي. دا خبره هم بايد وکړم چې پښتو ژبه اؤ ادب کښې دَ پښتو څانګې پېښور پوهنتون نه ملګري اسرار اتلؒ "پښتو ادب کښې رپورتاژ نګاري - يوه تحقيقي اؤ تنقيدي مطالعه" عنوان لاندې دَ پي ايچ ډي مقاله ليکلې ده اؤ ډګري ئې پرې اخستې ده. ښاغلي زرياب يوسفزي پرې يو ټرم پېپر (Term Paper) ليکلی دی اؤ که له دې علاوه که پرې افغانستان کښې پښتو ژبه کښې څه کار شوی وي يا دَ جنوبي پښتونخوا دَ کوئټې دَ بلوچستان پوهنتون پښتو څانګې نه که څه اکېډمك کار شوی وي اؤ يا بيا دَ علامه اقبال اوپن يونيورسټۍ اسلام اباد پاکستان دَ "پاکستاني ژبو اؤ ادبياتو دَ څانګې" نه دَ ايم فِل يا پي ايچ ډي په سطح کوم تحقيقي اؤ تنقيدي کار سر ته رسېدلی وي هغه زما له نظره نه دی تېر شوی اؤ که شوی وی اؤ زما له نظره تېر شوی وی نو ما به ئې په دې خپله وړه غونډې مقاله (چې زما دَ "رپورتاژ" مقدمه ده) کښې خامخا ذکر کړی وه . الله دې وکړي چې داسې اغلې اؤ ښاغلي پېدا شي چې په دېو موضوعاتو دَ زړه له کومې کار وکړي اؤ دَ پښتو جولۍ پرې درنه کړي اؤ دَ پښتو شاړه مېره پرې ګلستان کړي.

زما دې کتاب "رپورتاژونه"کښې به ځينې ليکونه دَ رپورتاژونو په تعريف پوره خېژي اؤ ځينې به دَ رودادونو اؤ شايد چې ځينې ليکونه په دې دواړو اصنافو پوره ونه خېژي خو بيا هم ما دَ رپورتاژونو په نامه راغونډ کړي اؤ ستاسو په وړاندې ايښي دي. ستاسو خوښه چې دې له څه نامه ورکوئ. زه به ستاسو دَ تعميري سوچ تر مخه معياري اؤ اصلاحي تنقيدونو ته سترګې په لار يم نه کلانکاري ذهن

اؤ تخريبي خرافاتو اؤ واهياتو ته.

دَ دې کتاب اؤ خصوصاً دَ مقدمې په راجوړولو کښې زه دَ پښتونخوا مطالعاتي مرکز باچا خان پوهنتون چارسده دَ ډاکټر شائسته پروين، بدر الحکيم حکيم زي، فقير محمد فقير، ارشد سليم، انعام الله انعام اؤ خپلو ټولو ادبي دوستانو شکريه ادا کوم چې ما سره ئې تل مينه لرلې ده اؤ په ادبي کارونو اؤ هلو ځلو کښې ئې زما مرسته اؤ ملاتړ کړې دی اؤ زما ملا ئې تړولې ده.

خصوصي طور سره دَ ښاغليو ګل محمد بېتاب اؤ رشيد احمد صاحبانو ډېره زياته شکريه ادا کوم چې زما دا رپورتاژونه ئې په مينه ولوستل اؤ په پښتنه جذبه ئې پرې دَ خپلو خيالاتو څرګندؤنه وکړه.

دَ ايکسپرټ ګرافکس دَ ښاغلي جنّت ګل دَ کمپوزنګ دَ پاره هم اؤ دَ اياز الله ترکزي دَ اعراف پرنټرز مالك هم ډېره زياته مننه کوم چې دا کتاب ئې ستاسو تر لاسونو په ډېر ښائسته ډول سينګار درورسولو.

الله دې دوي ټولو لره ما سره دَ دې احسانونو احسنه جزا ورکړي.

## حوالې


۱. Oxford advance learners dictionary

۲. ویبسټر نیو ورلډ ډکشنري اف دي امریکانا لینګویج

۳. Merriam-Webster

۴. ډکشنري . کام

۵.(اُردو کا اوّلین رپور تاژ (مجموعہ مقالات یلدرم سیمینار علی گڑھ مئی 1981ء))

۶. (عادل رشید، پیش لفظ "خزاں کے پھول" 1948ء)

۷. (نقوش افسانہ نمبر ستمبر اکتوبر 1952ء صفحہ 187)

۸. (اُردو رپور تاژ نگاری، دہلی 1977، ص 719)

۹. (مقالہ اُردو ادب آزادی کے بعد)

۱۰. (رپور تاژ اور اُسکا موضوع، شمیم احمد: مشمولہ اُردو نثر کا فنی ارتقا، مرتبہ: ڈاکٹر فرمان فتح پوری)

۱۱. (خیابان، پشاور یونیورسٹی شعبہ اُردو اصناف سخن نمبر 1994، صفحہ 95)

۱۲. (انور سدید، اُردو ادب کی مختصر تاریخ، لاہور، عزیز بک ڈپو طبع اوّل 1991ء، طبع پنجم 2006، 612، صفحہ 609، ڈاکٹر اعجاز حسین "افکار" کراچی۔ اگست 1957ء صفحہ 55)

۱۳.همدغه ،مخ ۶۱۰

۱۴.همدغه

۱۵. (حسرت محمد زبیر ، اولسي ادبي جرګه- تحقیق اؤ تنقید ، دَ ادبي دوستانو مرکه مردان، اول چاپ 1998، 217 مخ)

۱۶.همدغه،مخ ۱۷۷، ۱۷۸

۱۷.(انور سدید ، اُردو ادب کی مختصر تاریخ نه په اختصار ترجمه شه )

۱۸. همدغه

۱۹. همدغه

۲۰.(داستانِ تاریخ – رپورتاژنگاری، ڈاکٹر ظہور احمد اعوان، الوقار پبلیکیشنز لاہور، 2004ء نه په اختصار)

۲۱. همدغه

۲۲. همدغه

۲۳. همدغه

۲۴. عبدالغفار (پښتون اتمانزی 11 اپریل 1939ء، 10 – 11 مخونه)

۲۵.(داور خان داود ، (پروفیسر) مشموله "څېړنه اؤ کره کتنه" (دَ مقالو مجموعه کښې مقاله "دَ سفرنامې سفر اؤ دَ رپورتاژ رپورټ" پېښور 2003ء ، 245 مخ)

۲۶.هم دغه مأخذ 262 مخ

۲۷.(سحر یوسفزے (حبیب الرحمان) "ادب څه دی؟" پېښور (دوېم چاپ) 1980ء، 196 مخ)

۲۸.حجازی مسکین علی ڈاکٹر ، ''مکتوبات نگاری''، مقتدره قومی زبان، اسلام آباد ، 95، ص 1998پاکستان، طبع دوم